http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

# د خاطر دیوان

مصري خان خاطر اپریدے

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



# تړون

د خیبر دړې
د شاعرانه غېږې
په
نوم

د خاطر رنګین غزل ته حېرانېږم
په دې خو خیبر کښې څه دی چې له خاورو



# فهرست


شمېر | مخ

(ا)

۱ : چې عاشق د معشوقې په لور کاته کا ______ ۱۴
۲ : چې اشنا ئې ستمګر شي نو به څه کا ______ ۱۵
۳ : زړه ئې کړې هر وخت د دردونه اشنا ______ ۱۶

(د)

۴ : کافي برقي دی دیدار د محمد ______ ۱۷

(ل)

۵ : خیر نن که د ر ته ما وکتل تا را وکتل ______ ۱۸

(م)

۶ : دا ستا د حسن تماشې وا خستم ______ ۱۹
۷ : دوا یه شم تا نه قربان څه وکړم ______ ۲۰
۸ : باغ د مینې دې د خیال پکښې غنچې کړم ______ ۲۱


Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



مخ
۹ : زۀ نکه د مرم په شان دیدار ته اربۀ کېږم ــــــــــــ ۲۲
۱۰ : شرمسره چې نه یم په ځوانه پسې نهیږېږم ــــــــــــ ۲۳
۱۱ : ستا په الفت کښې به هم بېزار نۀ شم ــــــــــــ ۲۴
۱۲ : واخلمه تا او کۀ دنیا واخلم ــــــــــــ ۲۵
۱۳ : خوشحالي ستا شوه زۀ يې نۀ اخلم ــــــــــــ ۲۶
۱۴ : نکه ګلي چې په ازغو کښې ونیم ــــــــــــ ۲۷
۱۵ : په دې دنیا کښې هسې شپې تېروم ــــــــــــ ۲۸
۱۶ : اشنا کۀ تا ته په کتو یره شوم ــــــــــــ ۲۹
۱۷ : قسمته واسې دې ودۀ کړم چې بېدار نۀ شوم ــــــــــــ ۳۰
۱۸ : نور به نرۀ چې نۀ څانیری چې څۀ وایم ــــــــــــ ۳۱
۱۹ : ته به ګرځې هسې بنځلې نۀ به مړیم ــــــــــــ ۳۲
۲۰ : ځنکلي مخ ته دې د مرم په شان اربۀ یم ــــــــــــ ۳۳
۲۱ : رنګ ته چې ګوره سره سکروټۀ یم ــــــــــــ ۳۴
۲۲ : سپرلیه ! زۀ دې په غنچو کښې نۀ یم ــــــــــــ ۳۵
۲۳ : یاره ! ستا مینې په اور سېځلے یم ــــــــــــ ۳۶
۲۴ : ستا د مترل په منزلونو کښې یم ــــــــــــ ۳۷

( و )

۲۵ : ژوندی کله نۀ ماړۀ دي چې لۀ ځان درو ــــــــــــ ۳۸
۲۶ : څوره به زۀ ته بیرته به سره سترګو ــــــــــــ ۳۹
۲۷ : نن به څۀ پرسې زما په توره سترګو ــــــــــــ ۴۰



مخ
۲۸ : بیا دې سهی نۀ کړم په هغه سترګو ــــــــــــ ۴۱
۲۹ : ما د وصال په شپه کښې تړله شپه سحر لیدلو ــــــــــــ ۴۲
۳۰ شوق چې ستا لۀ دیده پیغو عیش سره لاړلو ــــــــــــ ۴۳
۳۱ : باد شمه د عشق ذکر نګر نو به سره شو ــــــــــــ ۴۴
۳۲ : خو به سره پټ دراپه به نۀ ذره ذره یو ــــــــــــ ۴۵
۳۲ب : څکه چې تن به سوز به د تهی کړو ــــــــــــ ۴۶
۳۲ج : سنه شوله دیره چې انکار دې وکړو ــــــــــــ ۴۷
۳۳ : خبر نۀ وم دې ثواب او دې عذاب ته ــــــــــــ ۴۸
۳۴ : زۀ یمه هجران د دنیا سترګو ته ــــــــــــ ۴۹
۳۵ : ته چې رقیب ته اشارې کړې داد مل نخښه ده ــــــــــــ ۵۰
۳۶ : خدایه ! تراخۀ شو د غمزو هسې نامه پاتې ده ــــــــــــ ۵۱
۳۷ : بېګا ستا په انتظار یې هسې ستړې تړله شپه کړه ــــــــــــ ۵۲
۳۸ : لرې د نقاب لرې کړه دل زده کړه ــــــــــــ ۵۳
۳۹ : ما په شړکیو تا په خوږو تېره کړه ــــــــــــ ۵۴
۴۰ : رقیبه په خپل راغلې د اشنا خبرې کړه ــــــــــــ ۵۵
۴۱ : یاد شرابو نه نشې وباسه ــــــــــــ ۵۶
۴۲ : د سحر باده دا ارمان یوسه ــــــــــــ ۵۷
۴۳ : نکه ګلي د مرسپدو وکه شه ــــــــــــ ۵۸
۴۴ : ستا لۀ سپینه مخه ځار زما زړګے شه ــــــــــــ ۵۹
۴۵ : د هجران په شپه دیو په لاس کښې راغله ــــــــــــ ۶۰
۴۶ : تر څو ته چې نۀ کېږی کله کله ــــــــــــ ۶۱

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




مخ

۴٧ : دستا د ښکلي مخ شمعه چې مې شړله ـــــــــــ ٦٢

۴٨ : بیا به سر وکړو اوس ځواني ده دمه دمه ـــــــــــ ٦٣

۴٩ : شکر دے چې زه هم د ښېرې شرمنده ـــــــــــ ٦۴

۵٠ : کله چې په فکر کښې دستا یمه ـــــــــــ ٦۵

۵١ : د لاړې خاوره شوم د ښنې ځنې وتلې یمه ـــــــــــ ٦٦

۵٢ : توبه خلک تېروي کا په هوښیار باندې وختونه ـــــــــــ ٦٧

۵٣ : ما په مثال لکه پتنګ وګڼه ـــــــــــ ٦٨

۵۴ : دستا د خلې چې فیصله ما نه شي ـــــــــــ ٦٩

۵۵ : نور نصر به خبره کښې د افسون مه راکړه ـــــــــــ ٧٠

۵٦ : ته خو وایه زه به څه کړم، زړګیه لېونیه ! ـــــــــــ ٧١


ځ


۵٧ : ځیګر چې شي کباب په لمبو اور د ګیډه ـــــــــــ ٧٢

۵٨ : لوے دریاب د مینې نه شي په واړه د زړه ـــــــــــ ٧٣


ی


۵٩ : داسې بلا شپه به په نصیب سره راشي ـــــــــــ ٧۴

٦٠ : عکس دستا زما د سترګو له ځمبان وځي ـــــــــــ ٧۵





٦١ : دستا سترګې چې ګرځې د زړه نه وځي ـــــــــــ ٧٦

٦٢ : زړګیه ! تا ولې چې دردونه غټ دي ـــــــــــ ٧٧

٦٣ : چې پښېمان نه شي په دا کښې غټ دي ـــــــــــ ٧٨

٦۴ : کله دستا خنده بد رښتې دي ـــــــــــ ٧٩

٦۵ : دستا په غم کښې خوشحالي پټه دي ـــــــــــ ٨٠

٦٦ : زما چې مدام دغه دلبر ته سترګې دي ـــــــــــ ٨١

٦٧ : خو خو ما نه هسې بله دنیا ښکاري ـــــــــــ ٨٢

٦٨ : زړه چې که هر څو را نه هر څه غواړي ـــــــــــ ٨٣

٦٩ : زما زړه او دستا سترګې سره جګړې ـــــــــــ ٨۴

٧٠ : ما تا نه خو به چې زړه د چېرې خپل درد ونه دکا تېرېږي ـــــــــــ ٨۵

٧١ : څه چې پرې څپه د ما د یار سره جوړېږي ـــــــــــ ٨٦

٧٢ : د مخت ګډه د زړه چې ما غرېږه نه جوړېږي ـــــــــــ ٨٧

٧٣ : نور به د ایله شغه دلبر شي نه پاتې کېږي ـــــــــــ ٨٨

٧۴ : سترګې دې کړه برېښنده چې وختونه د ار خطا شي ـــــــــــ ٩٠

٧۵ : په ارمان د نالانه شي چې هوښیار شي ـــــــــــ ٩١

٧٦ : د دې دنیا نه چې ګلان وړک شي ـــــــــــ ٩٢

٧٧ : چې چې د ربنده دے د لبر په پېچان شي ـــــــــــ ٩٣

٧٨ : ستا چې خوږې زلفې کړ نښه دا تار شي ـــــــــــ ٩۴

٧٩ : دیوانه چې به ما د وچې کا نڅه به شي ـــــــــــ ٩۵


Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



مخ

۸۰ : خزان لاړشي بهار راشي ګلان خوشحاله شي ______ ۹۶

۸۱ : راشه په ګوګل کښې د ځګر خبرې نهٔ شي ______ ۹۷

۸۲ : دا ستا په سترګو کښې به څهٔ پاتې شي ______ ۹۸

## ے

۸۳ : زړهٔ په دانهٔ دے چې نارے مې دے ______ ۹۹

۸۴ : څوک چې ستا د ګراف مینې طلبګار دے ______ ۱۰۰

۸۵ : خوږ خوږ د مینې په ترخو کښې انتظار دے ______ ۱۰۱

۸۶ : خدایه څومره بې وفا زما دلبر دے ______ ۱۰۲

۸۷ : ما وې ګمان راته اشنا دستا په ښهر دے ______ ۱۰۳

۸۸ : شاشه چې حسن دې اشنا د سرو لمبو نه ډک دے ______ ۱۰۴

۸۹ : تګ ترد سرے دا ستا سرے ورېل دے ______ ۱۰۵

۹۰ : څومره وړې په زړګي باندې چې غم دے ______ ۱۰۶

۹۱ : ستا په انتظار کښې مانه کال څهٔ دے ______ ۱۰۷

۹۲ : چې نړۍ ستا په ترد دے په بل ترد ې پیوند نهٔ دے ______ ۱۰۸

۹۳ : چې لږ نظر چې د ښهر باقې دے ______ ۱۰۹

۹۴ : سترګې دې چلې د ښندا زده کړے ______ ۱۱۰

## ې

۹۵ : د ځان سپګاروالو کښې سکه وې مالیدې ______ ۱۱۱

۹۶ : اشنا چې نن لیدهٔ تېرې وعدې را یادېدې ______ ۱۱۲

۹۷ : زما د امیدونو ونګې شپې وغښېدې ______ ۱۱۳

۹۸ : چې ښکلې دې وخندېدې ښار ښار شوې ______ ۱۱۴



مخ

۹۹ : پوره شوېه په دې چې په کنځل کښې څنګه ښکارې ______ ۱۱۵

۱۰۰ : اے ګله ستا چې ډکې لهٔ خندانه سترګې لارې ______ ۱۱۶

۱۰۱ : کهٔ دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بیا به څهٔ کېږي ______ ۱۱۷

۱۰۲ : د ېره خوشحالي به نهٔ ده بیا دانه هېرېږي ______ ۱۱۸

۱۰۳ : ګله مجنون غوندې ګرځم په بیابان دوېږي ______ ۱۱۹

۱۰۴ : راشه اے ماه و تابان په توره شپه کښې ______ ۱۲۰

۱۰۵ : چې د سترګو دې ښکارنې زما سترګې ______ ۱۲۱

۱۰۶ : خوند د عمر بې برې ګرځې شرې زما سترګې ______ ۱۲۲

۱۰۷ : دستا چې نهٔ وینم دا تورې سترګې ______ ۱۲۳

۱۰۸ : څهٔ وشو چې سترګې مې په تابانه ... شرلي ______ ۱۲۴

۱۰۹ : چې اشنا زې کړې ایسار ... ولې ______ ۱۲۵

۱۱۰ : اوښکې نهٔ ګیرې ... شرې ______ ۱۲۶

۱۱۱ : نهٔ به په زړهٔ کښې مانه څهٔ راکړې ______ ۱۲۷

۱۱۲ : نهٔ ما ستا ټولې ... نهٔ لې ______ ۱۲۸

۱۱۳ : هر څو ګړه کړې د زړهٔ قرار ... راغې ______ ۱۲۹

۱۱۴ : داسې راته ګوري ته نهٔ چې راته ګوري ______ ۱۳۰

## سندرې

لهٔ ۱۳۲ نه تر ۱۶۵ پورې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې عاشق د معشوق په لور کاتۀ کا
خو د لېمۀ شي کم طاقته په ژړا تۀ کا

چې پلو لۀ مخه لرې کړي دنيا شي
لکه ستر که د سبا چې را خاتۀ کا

لرې عکس د زړۀ واخله کۀ دې شکوي
چې دا تور بانړۀ دې څرنګه ويشتۀ کا

په مئين زړۀ څنګه دن شي چې يار راشي
په هيبت زړۀ په کوګل کښې الوتۀ کا

د خاطر په زړګي داغ د بېلتون کوره
چې د يار په لور کاږۀ وارۀ کاتۀ کا

چې اشنا يې ستمګر شي نو به څۀ کا
چې زخمي څوک په څېګر شي نو به څۀ کا

چې ټول عمر يې تېر کړے په پالنګ وي
څۀ چې زمکه يې بستر شي نو به څۀ کا

چې په عمر کښې يې غم ليدلے نۀ وي
چې د غم سره يې سر شي نو به څۀ کا

انتظار چې د وصال په کومه شپه کړي
د بېلتون چې پرې سحر شي نو به څۀ کا

کۀ ديدن د يار مړوندے په دېر هنر شي
چې غماز د چا رهبر شي نو به څۀ کا

زۀ خاطر خو همېشه وغسې وايم
چې اشنا يې مسرور شي نو به څۀ کا

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



کاڼي بوټي دي دیار د محمدؐ
ما منلي په دیدار د محمدؐ

ګرېنګونه به يې لاړې شي په مځکې
که چا ونیوله لار د محمدؐ

د دُنیا واړه ګلونه به يې هېر شي
که چا ولیده ګلزار د محمدؐ

چې د دې دُنیا ژړا او خندا نه وے
نه وے شمع په مزار د محمدؐ

د یادونو يې وصال ګڼه خاطره
چې قرار وي يې قرار د محمدؐ



زړه يې کوي هر وخت دردونه آشنا
لږ خو يې وایه فریادونه آشنا

ترڅو به ژاړم ستا په مینه کښې نه
ګوره داوښکو يې سیندونه آشنا

اوس دې له غمه خلاصېدے نشم
ما وې په عشق کښې وي خوندونه آشنا

نن په جبین کښې دې خالونه خوړ دي
دي په چشمانو يې ګردونه آشنا

که ستا په خیال کښې دے اجل ته قریب
د خاطر شته دي ارمانونه آشنا

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خبر نن کۀ د رته ما وکړل تا را وکتل
خو ګوردم به دې بیا کۀ دې سبا را وکتل

غم د غمسې ګلونه وو چې مینه جوړه ؤ
غځۀ وشو پسرلے دے کۀ آشنا را وکتل

دنیا را ته ګوری د کتو نه ووتم
چې تا نه مې کتلی دی هر چا را وکتل

پۀ مخه باندې راغلې مخ دې خله پټوۀ
کۀ غم دې را ته جوړ چې دې پۀ شا را وکتل

دستی مې ونخندل هم دا مې وه ارمان
تا چې اے رقیبه پۀ خندا را وکتل

یو دم مې نرۀ نرے شو لو هم ولو خاندګۀ
خاطر چې غریو نیولی پۀ ژړا را وکتل

[illegible]



د ستا د حسن تماشې واخستم
تکه لوګے پۀ سر لمبې واخستم

لاس خو مې رانه کړو چې مخ پټوی
ګوری یاران مې د غم شپې واخستم
دا درته سوال کړم چې سوال نشم کړے
وای خله ته چې ستا اسرې واخستم
سبا مې بیا پۀ زولنو کښې ګوره
نن بې چې فکر د کوڅې واخستم
سم دې د مخ پۀ سبا پوه نۀ شو مه
کۀ دې د زلفو توری شپې واخستم
کور د ژوندون را ته یو پور بنکاره شو
چې تصور د هدیرې واخستم
بس یا دوم دې نور مې مۀ تنګوه
چې رته مې صبر نشې غصې واخستم

خاطره ته او دا دنیا دې پوه شه
نۀ بس د عشق یوې قصې واخستم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ووایه شم تا نه قربان څه وکړم
نور دې د پاسه په ځان څه وکړم

ته خو به کمځې د زلفو جوړې کړې
زه په دې شلېدلي ګرېوان څه وکړم
ته خو چا ته نه ورځې، خو زه یا غلم
څه یم ستا په در کښې مهمان، څه وکړم
زه به نور څه نه کړم بس دے سوال کوم
نور خو زما نشته دے توان، څه وکړم
ستا په طمع ځان له باقي شوے یم
ټول خو راند لاړل یاران، څه وکړم
پوه دې چې په ځان کړم اوس چې نه پرېږدي
بیا به داسې نه کړم سلطان، څه وکړم
چا به دغم ټک ټوټوندون اخستے وه
بس خو چې پیدا شوم انسان، څه وکړم

اوس خو زه خاطر په څه پوهېږم نه
تا چې کړمه داسې حیران، څه وکړم



باغ د مینې دې د خیال په کښې غوټۍ کړم
ستا د مخ په تصور کښې تماشې کړم

بل به نه وی یاره ستا غوندې کښې حُسن
څله اور د خپله لاسه درپسې کړم

ستا د مخ کتاب د زړه په سترګو کوم
په ځان تېرې شپې او بدې راخورې کړم

زه خاطر خو یاره ستا د مخ کتاب ته
بې له تا نه په خبر کښې ورځې شپې کړم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زهٔ لکه د موم پهٔ شان دیدار ته اوبهٔ کېږم
پرېږده چې او بهٔ شم ستا رخسار ته اوبهٔ کېږم

چرته شی خوبونه شپې پرې ستورې محفل جوړ کړي
هسې دا ې مشغولا شی ستا سپېګار ته اوبهٔ کېږم

زهٔ پرې بنهٔ پوهېږم ستا لیدل زما اجل دے
بیا ې هم وار نهٔ شی ستا یو وار ته اوبهٔ کېږم

اوس خاطره ولې خداې پهٔ زړهٔ کړم دومره سخته
بیا چې پس لهٔ مرګه ستا مزار ته اوبهٔ کېږم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



ستا پهٔ اُلفت کښې به هوښیار نهٔ شم
خو چې د عقل نه وزګار نهٔ شم

سود ې د عشق پهٔ لېونتوب نهٔ شی
خو چې رسوا دې پهٔ بار بار نهٔ شم

یار ې وفا دې ماته هله وائي
چې ترې لاسر او ماله زار نهٔ شم

خو چې پهٔ تورو خاورو موږ نهٔ شم
موږ به دې هرمره پهٔ دیدار نهٔ شم

کهٔ د منصور غوندې پهٔ دار شم اشنا
دا ستا لا عشق به توبه ګار نهٔ شم

خاطره! داسې ګذار عشق راکړلو[ے]
چې بل ګذار ته به بېدار نهٔ شم

ے متن او دیوان کښې «راکړو» دے، چې مصرع بې وزنه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



واخلمه تا اوکهٔ دنیا واخلم
پهٔ خندا خرنګه ژړا واخلم

لېږې دې پوره ته کړه د مخ نه زلفې
لږه سودا چې پهٔ دنیا واخلم

ته چې پهٔ سترګو کښې مسکې شوې ګلې
نهٔ دې دردې مینې بلا واخلم

تا ته چې ګورم پهٔ دوړو زړونو کښې شم
یو قدم مخکښې بل پهٔ شا واخلم

مرګ او بېلتون راته جوړه راغلي
خاطره دا واخلم کهٔ دا واخلم



غورمه چې نه یم په ځواني پسې زهیر یم
خدایه زده نهٔ پوهېږم چې ساده شوم که پوهېږم

نهٔ اولهٔ تا تنګ دا هسې کله چرته شوی
دومره خو پوهېږم چې قدم اخلم ودرېږم
تهٔ او ستا بنايست چې په ما څنګه څنګه کړے شي
مهٔ کوه ایله نن د هر څهٔ سره جوړېږم
نهٔ یمه خوشحاله ستا په غم کښې خندنه مهٔ شي
خدایې پخلا مهٔ کړه چې لهٔ تا . مرورېږم
شان یې د کړه نهٔ وی خو چې زړهٔ مې شي راپورته
تا ته چې زهٔ سوال کړم د خپل ځان ځنې شرمېږم
خوښته ې هم دا چې راته وروایې چې درومه
خدایې خبر چې بیا دې پهٔ پلوٗ دربنکاره کېږم
تهٔ کهٔ په یو خلهٔ لهٔ ما خلاصېږې نو یې واخله
تهٔ به راته نهٔ شې کټے څهٔ له خندنه کېږم

څنګه ما خاطر در ته دا ووې چې یې هېر کړه
پېښېږده چې یې واره په هر ځای کښې دریادېږم

---

میاشتنۍ «قند» مردان ـ خصوصي ګڼه ۱ ر ګاکاین نمبر (ص ۹۵)

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوشحالي ستا شوه زه يې نه اخلمَ
د ستا غمونه واړه زه اخلمَ

تا چې زړه وړه ګواه هم نه لرم
اوس به لۀ تا نه خنګه زړه اخلمَ

اول سپېرغی وم ستا د مينې د اور
اوس په ځان پوه شوم چې لمبه اخلمَ

په وړاندې دې ځم په ورو ستو ګورم آشنا
نه قدمونه چې واړه اخلمَ

هر سړی ګډ دی ته په خاطر دې د غم
په اسويلو کښې چې سيالۀ اخلمَ

ـ منزل په کښې د الفاظو غصونه د ده چې صحيح نه دے .



لکه ګلې چې په اغزو کښې وينم
داسې يې زړه ستا په بڼو کښې وينم

رخسار دې وينم تر دود زلفو کښې ستا
لکه رڼا چې په تيارو کښې وينم

ګلفامه څو که لرې او سې له ما
زه دې د نم په پلوشو کښې وينم

و ستا ليدل ته شوے خوب وۀ آشنا
بيا به دا خوب په کوم شپو کښې وينم

اے د سبا ستوري باخبره په ورو
تله د آشنا دې په خترو کښې وينم

زما خاطر خاطر دې اوږد کښې وسو
اوس يې لوګے په اسويلو کښې وينم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



په دې دُنيا کښې مسې شپې تېروم
لکه مېلمه يو دوه غړي تېروم

په ما ژمي مۀ شي خوږ مخ ښکاره کړه
په زړۀ د ستا د مخ لمبې تېروم

خوشحال تۀ کوه چې غم نۀ لرې
زۀ لېونے يم چې تنګسې تېروم

دا زۀ خاطر ستا د خاطر د پاره
په خپل خاطر د غم چپې تېروم

اشناکۀ تا ته په کتو پوره شوم
نو بس په تولو تماشو پوره شوم

پس څو معلومه شوه چې نۀ راتلې
ستا د دروغو په وعدو پوره شوم

يا د ساقي د مې خوند نشته دے
يا زۀ ايله اوس په نشو پوره شوم

سوے به هم د خاطر زړۀ وي داسې
زۀ دې د مخ په سرو لمبو پوره شوم

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



قسمته راسې دې ودۀ کړم چې بېدار نۀ شوم
بخښې لۀ تا ستا د غمونو نه وزګار نۀ شوم

پۀ دې دنیا کښې به غېږ ستا لۀ ژونده څۀ ژوندی نوی
لېونم غوندې ګرځېږم خو پرځل پۀ کښې خمار نۀ شوم

ستا پۀ الفت کښې هغه خوب چې ما لیدلے اشنا
د رقیبانو د جګړو ځنې ویزار نۀ شوم

تۀ چې راکړې زۀ به هغه وخت پۀ طمع ومه
یو ځل هم مړه د ستا د خولې پۀ بنۀ ګفتار نۀ شوم

هغه وعده چې تا پۀ سترګو کښې وه مانه کړې
دا زۀ خاطر دې د وعدې پۀ انتظار نۀ شوم

نور پۀ زړۀ مې نۀ ځانېږي چې څۀ وایم
دا نه بیا مسرورېږي چې څۀ وایم

کۀ څۀ نۀ وایمه هم راپورې ګڼی
پۀ دې هم راته قهرېږي چې څۀ وایم

د هر چا پۀ لوري څمه داسې وخت دے
بیا مې وخت کله تېرېږي چې څۀ وایم

کۀ خبره نۀ وی مانه خپه دے خپه دے
بیا خپل حسن نه خبرېږي چې څۀ وایم

وېره بنه پۀ تا پوهېږمه خاطره
خو بس سترګې مې شرمېږي چې څۀ وایم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ته به کرځي مسې بنګلے زهٔ به مړ یم
چې ې اوس وګړےلن لیدلے زهٔ به مړیم
جنازه ې چې لهٔ کوره ګرځ تــه درومی
ته به نهٔ وې راو تلے زهٔ به مړ یم
خداې د پاره پهٔ مزار ې چې را درومې
لږ شه ماته پښه نیولے زهٔ به مړیم
زهٔ به مړ شمه قرارې مرګے ورک شه
سره خاندی به تهول کلے زهٔ به مړیم
وچې ترڅې به پهٔ ما وی باندړغړې
وی مزار به ې مُبتلے زهٔ به مړ یم
اے اشناچې دې وطن له ته را درومې
خرخښې خو دې لیدلے زهٔ به مړیم
خرې خاورې به پهٔ ما باندې انبار وی
مرسرے به دروی غلے زهٔ به مړیم

د کاکُل پهٔ ښته بند د مغ کتاب کړه
ما خاطر پهٔ خدای سپارلے زهٔ به مړیم



بنګلی مخ ته دې د موم پهٔ شان اوبهٔ یم
لکه کافے مسې کلک ورته پهٔ زړهٔ یم

چې پهٔ کومه لاره لاړشی زهٔ یې مل یم
لکه ګرد ې مسې خود پهٔ مزیو پلهٔ یم

زهٔ پهٔ کومو سترګو ځان ته بیمار وایم
چې د سترګو اخستے شمه نو بنهٔ یم

ستا لیدل لکه د خوب لیدل دی یاره
پهٔ دې خوب پسې لا مفتې وُدهٔ یم

لږ د ځان سره پهٔ زړهٔ کښې فکر وکړه
زهٔ خاطر دې چرې یوځلې پهٔ زړهٔ یم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

کوره چې رنګ مې سوے سکوډ نهٔ یم
طاقت مې نشته ستا د زور نهٔ یم

راځه د سترګو نه مې مخه وهېږه
سرې په ژړا دې ځهٔ مېخور نهٔ یم

دې اسوېلو ته مې ته نهٔ ګورې ځهٔ
سوے په اور یم سوے لوډ نهٔ یم

ستم کوه ته منع کړے یې چا
زهٔ لا خاطر مېړے دګوډ نهٔ یم

○



○

سپرلیه زهٔ دې په غُنچو کښې نهٔ یم
عادت په داسې تماشو کښې نهٔ یم

کهٔ راکوې نو سم شراب را کوه
زهٔ دې ساقي هسې اوبو کښې نهٔ یم

اے خدایه بس ماخپله ورځ ولیده
د داسې ژوند په تېرېدو کښې نهٔ یم

د ستا بانهٔ د ستا رخسار په خاطر
بې د ګلونو په ازغو کښې نهٔ یم ۓ

ته ما خاطر ته هسې ست خو وکړه
چې خفه نهٔ شې په در تلو کښې نهٔ یم

○

ۓ متن لرونکو دیوان کښې دا بیت د غزل د پوره څلورم بیت دے

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا د منزل په منزلونو کښې یم
د دیدو په امیدونو کښې یم

نه مې دنیا نه مې عقبا ګټیږي
دغې سودا او دا فکرونو کښې یم

د ستا د رخسار به مې هېر نشي اشنا
کله د بهار په سرو ګلونو کښې یم

زما په زړه کښې خوږم ته يې اشنا
دا نه خاطر که د چا زړونو کښې یه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



یاره ستا مینې په اور سېځلې یم
دروغ به نشمه په زړه داغلې یم

خودم قسم چې تر هغې پورې ژوندې یم
دېر دې نه په تش دیدن ساتلې یم

همېشه سر په زنګون په غم کښې ناست یم
یاره تا کله خوشحال لیدلې یم

خوار خاطر ولې چې دا کومه ګناه ده
چې له در دې بېنوا شړلې یم

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ژوندی کله نهٔ مړهٔ دی بې لهٔ[1] خاورو
نهٔ مړهٔ دی نهٔ ساړهٔ دی بې لهٔ خاورو

چې چې خاورې ځان ګڼلې په ژوندون دے
هغه چرته کښې ورُدهٔ دی بې لهٔ خاورو

د انسان سره چې غم مل شي نو ګلک شي
دېوال کړے چا وبهٔ دی بې لهٔ خاورو[2]

د خاطر رنګین غزل ته حیران یم
په دې خبر خبر کښې څهٔ دی بې لهٔ خاورو

○

[1] متزلینه او دیوان کښې د (لهٔ) په ځای صرف (د) لیکلے شوې چې صحیح نهٔ دے

[2] متزلینه او دیوان کښې غلطه مصرعه داسې لیکلې شوې ده :
دېوال کړے چې اوبو دے چا لهٔ خاورو .



○

خود به نهٔ ښېبې مه پهٔ سرو سترګو
تېرو تمه ستا پهٔ لېونو سترګو

مهٔ توروه تورې بلا سترګې دې
پام چې درته نهٔ شي د سپېرو سترګو

عمر له بې کار وي د ښها سره
ورهٔ چې ګورې چا ته پهٔ معصومو سترګو

بس کړه د خاطر سره ښکلا شه ته
خلق وېر عزت کړي د نېو سترګو

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به څۀ یوسي زما پۀ تورو سترګو
زړۀ دې وړے لا پخوا پۀ تورو سترګو

کۀ پروا کړمه څو زۀ به دې پروا کړم
نور دې څۀ کوی پروا د تورو سترګو

وړې سترګې مې د سترګو پۀ هر لور شی
کړم دې داسې وارخطا پۀ تورو سترګو

کړی مې سترګې ستا د سترګو قدر پوره
ورېږي نۀ کړم د دنیا پۀ تورو سترګو

زۀ خاطر دې دګجلو سلامي وے
ښکلولے دې اشنا پۀ تورو سترګو



بیا دې سحی نۀ کړم پۀ هغو سترګو
یو ځلې هم هغسې پۀ مړو سترګو

نۀ مې شته پۀ نورو سترګو شک د زړۀ
بس څو زړۀ مې غل دے ستا د غلو سترګو
زۀ یې کړم آشنا لۀ شوګیرو سره
یو مې پل خوبونه ستا قدو سترګو
نۀ یم چې د زړۀ پۀ سترګو تا وینم
چار نا لیدلې پۀ ړندو سترګو
خپل مې واړه بدرائي پۀ سترګو کښې
ستا د پاره خپل شوم د پردو سترګو
ستا دې اوښدو ودوځو تۀ حیران یمه
څومره ښکلې ښکارې پۀ دې دو سترګو
خبر دے دا زما سترګې څو بدې شرې
تۀ څو راتۀ ګورې پۀ دې ښو سترګو

څومره تر ښه وُنږې دی حیران یمه
سترګې د خاطر ستا لۀ مړو سترګو
(مسودات) ریډیو پاکستان پېښور

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ما د وصال په شپه کښې ټوله شپه سحر لیدلو
حال مې د ځان لکه مجنون هسې اوتر لیدلو

دریغه چې شپه وے د وصال خو تر قیامته پورې
زۀ په دیدن نۀ مړېدم چې مې دلبر لیدلو
بیا د سحر غمونو هله لېونے کړمه زۀ
سرِ ماښام مې نمر اوچت د غرۀ په سر لیدلو[1]
نۀ یې لا هېڅ په سرو لبانو باندې نۀ یمه پوه
لا په اسمان مې چې د لمر په ځاې قمر لیدلو
په تصور کښې مې د ځان سره کول فکرونه
په هغه شپه چې به غماز جوړې محشر لیدلو
چې مې را یاد کړل هغه تېر د جدائۍ وختونه [2]
لۀ غمه ډک مې تر هغې پورې اختر لیدلو

خاطره بس کړه د وصال طمع پیدا شوه د یار
وائې رېبار چې مې جانان دې مسرور لیدلو

---

[1] منزل ایډیشن او دیوان کښې چې ... دغه مصرع داسې ده:
د ماښام سر ... نمر چې اوچت د غرۀ په سر لیدلو

شوق مې ستا د ږېرو پېغورونو سره لاړلو
زور مې شو اوبه د ستمونو سره لاړلو

خوښ مې اننګې شول د ښو ازغي مې هېر شول
نږۀ را نه بلبل شو د ګلونو سره لاړلو
ږېرې مې کړې ټینګې خو اخر مې اوښکې لاړلې
تاو د محبت د ارمانونو سره لاړلو
سترګې مې نیولې ستا د مینې په کاروان کښې
لاړلو نظر مې د ګردونو سره لاړلو
زۀ تر ښه لوګے شم چې به څۀ سوے ترې راشي
نږۀ را نه د یار د دیدنونو سره لاړلو
چرته واسې یار شته لکه زۀ په انتظار یم
ستړے د سبا هم د فکرونو سره لاړلو
چرته به زما لېونے زړۀ پرې مشغولېږي
ستا د تورو زلفو د زنځیرونو سره لاړلو

څو به دې مهار د عشق نیولے وي خاطره
ژوند د رڼې هسې د وختونو سره لاړلو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

باد شو مه د عشق د ګر نګونو پهٔ سرونو
په بوتم د لسري وطنونو پهٔ سرونو

د بغه چې د ستا د اننګو خوله هم نهٔ وي
پرې ته چې کوم د ګلونو پهٔ سرونو
سترګې به زما شي اخر غرقې پهٔ ژړا کښې
ګرځي چې کشتۍ د ګردابونو پهٔ سرونو
مات پهٔ ما نظر کړه چې سپېره سترګي حق حېران شي
درد چې کړه د لوېو محلونو پهٔ سرونو
هسې هم ايږې يمه د باد سره الوځم
سکون ې څله نيسي د زخمونو پهٔ سرونو
ځان به خاورې نهٔ کړم غم د ياره کهٔ څو وېرېشي
خاورې دې پرتې وي د تېغونو پهٔ سرونو

بنګلي به سر تيټ کړي ياره ستا پهٔ تصور کښې
د پېر خاطره ستا د غزلونو پهٔ سرونو



خو به سره پټ دواړه پهٔ زړهٔ ذره ذره يُو
کهٔ دا دې خوښه نهٔ ده چې مرچا ته دې ښکاره يُو

يو دغه ښېلتون دے چې عزت مو پهٔ کښې پړ دے
خو به پهٔ کښې وايو چې مدام دې درسره يُو

تهٔ زما پهٔ سرې[1] شمعې زهٔ ستا پهٔ انتظار کښې
هر کله چې وي نو مړهٔ به دواړه پهٔ يو شپه يُو

نهٔ به کله واوړم کهٔ دنيا پهٔ بله واوړي
ګرځي دې نور خلق موږ پهٔ خپله تماشه يُو

پوخ به مې سوګند شي پهٔ کښو د خو د يار
اوس به دواړه څهٔ رقيبه تو دې پهٔ اوبه يُو[2]

راشه مرور چې مې شک لهٔ خاطر وځي
وايو به ربښتيا چې دا پهٔ څهٔ سره خفه يُو

[1] د ديوان او منزل زند کښي سورې ... [illegible]
[2] د ماشمي منزل زند کښي نشته .

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ځکه مې نن په سوزېدو تېر کړه
چې مې پرون په مسېدو تېر کړه

زما خو ستا منزل مقصد دے اشنا
زړه مې له تېرو مرحلو تېر کړه

دلسوزی مه کړه تېر شو همدمه
زړګی مې عمر په لمبو تېر کړه

زما دا تېر ژوندون زما خو نه وه
ټول مې د ستا په تلو راتلو تېر کړه

پار بیا د چا له تورو زلفو نه ګرم
یو ځلې مرګ راباندې دو تېر کړه

لکه د شمعې بېګا ستا په طمع
ټول انتظار مې په سګو تېر کړه

زه چې سپېلی ته ورخبر نه یمه
ما د دیدن په رنګینو تېر کړه

ژونده د عشق لمبې ژوندې غځه دی
سر مې له واړو کړنګو تېر کړه

اشنا د ستا د ښکلی مخ په خاطر
ما خپل خاطر په سرو لمبو تېر کړه

ښه شوله وېره چې انکار دې وکړو
زما د واړه عمر کار دې وکړو

خلق چې ښه ولې ګوري ورته
تا چې مخ پټ کړلو ګذار دې وکړو

د زړه زخمونه مې بیا هله شماره
کله د دې خپلې خندا شمار دې وکړو

زه لا خفه نه وایم چې داغ مې په زړه
ته لا خفه یې چې دیدار دې وکړو

خاطره زه له تا نه چا وېرې یم
وار به دې راشي کله لې وار دې وکړو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خیر نهٔ وم دې ثواب او دې عذاب ته
خو تصویر وم ستا په ورو څوکښې محراب ته

ما وې تل به خوشحالي وي ستا په عشق کښې
اوس مې نهٔ پرېږدي غمونه اشنا خراب ته

ستا د سرو شونډو ارمان څو ځله راشي
کله کله چې نظر وکړم ګلاب ته

یو ذره یې لرې نهٔ کړله د مخ نه
فکر یوړم د اشنا د مخ نقاب ته

نور یادونه مې په یاد کښې رانه هېر شول
یو دوه نهٔ راځي چې کښېنمه حساب ته

واړې زړهٔ به زما هم داسې تنګ تور وي
چې خاطر وکړم نظر سرې کباب ته



زهٔ یمه حیران د دنیا سترګو ته
ګوره ګټې نهٔ شي د چا سترګو ته
ستا د ښکلو سترګو بلا واخلمه
مخ دې کړمه سترګو بلا سترګو ته
راشه اهو چشمه لېونۍ شومه
سترګې مې صحرا دي د ستا سترګو ته
ستا چې خندنو سترګو ته ګورمه
رامې شي له واره ژړا سترګو ته
راځي دې په خپله اشنا کړې دي
ځله مې نذر دل کړې اشنا سترګو ته
ستا خندا برېښنا ده د فلک غوندې
بیا را تلله هغه زما سترګو ته
تا جوړه ارادې د راتلو کړې دي
ښکاري مې رنګینه فضا سترګو ته

نن خو مې خاطره ستا خاطر وکړه
بیا به نهٔ راګوري سبا سترګو ته

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تهٔ چې رقیب ته اشارې کړې دا دمل نښه ده
تهٔ چې دا غلې غلې کړې دا د غل نښه ده

کله یقین کړمه په دا چې مرور یې لهٔ ما
ما ته معلومه ستا په سترګو کښې د چل نښه ده

تهٔ چې تپوس رانه مُدام کړې چې څهٔ لټوې؟
زهٔ چې دا لاس په سینه بردم دا یې اول نښه ده

خاطره تا چې بیګا خوب کښې د هجران لیدلے
یقین مې دا دے اخری ستا د اجل نښه ده



خواږهٔ تراخه شو د خوږو هسې نامه پاتې ده
د بدو شپې دي او د ښو هسې نامه پاتې ده

تهٔ رانه هېر یې خدایه هر څهٔ په دولت کړمه
د دعاګانو د ښېرو هسې نامه پاتې ده

په سترګو ژاړو او په زړهٔ کښې سره خاندو اشنا
مهٔ کړه ګیلې د ژړېدو هسې نامه پاتې ده

په دېره مینه کښې چې زهٔ او تهٔ پرې نهٔ پوهېږو
د عقل ورځو او د شپېو هسې نامه پاتې ده

چې په پلو کښې به یې په زړونو باندې او لګو
دستا د عقل انګر هسې نامه پاتې ده

سبا به واټې چې د خدای په خاطر راشه لږه
په ما خاطر کښې د ژوندو هسې نامه پاتې ده

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



بېګا ستا په انتظار ې مې ستړې تېره شپه کړه
خندل را پورې ستړو چې سپوږمۍ راته ګيله کړه[۱]

ورته سر په زنګانه وم د وصال تږی ته غلی
ما به کله بنه کړه چې بېلتون راته قصه کړه

شو په منډو نظر ستړی چې هر ستوری به جلب کړه
چې د ستا په لور به تللو هغه ستوری به مزه کړه

ورسره به یې زړه وچوی که شپه وچوی د خاطر نه
په ژړا ژړا خدای شي خو وعده یې ستا پوره کړه

[۱] صحیح مصرع داسې په کار ده: خندېدل راپورې ستوري چې سپوږمۍ راته ګيله کړه



لېږ د نقاب لرې کېږدل زده کړه
زما په لوری سم کتل زده کړه

په جار خندا به رقیبان پوهه شي
پټ په لېمو کېږې مسېدل زده کړه

اے زړه چې سم دا واورې ونه چوې
لکه تنها که ترکېدل زده کړه

ته ما خاطر ته نصیحت مه کړه
ناصحه ما نه پوهېدل زده کړه

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ما په شوګیر تا په خوبو تېره کړه
شپه مې سپوږمۍ ته په ګیلو تېره کړه

بېګا رانغلې شمع دو یه اشنا
ما توله شپه په درېدو تېره کړه

مینه د ستا زما نوې نه وه سوړه وه
هسې لمبه دې په اېرو تېره کړه

دا ما خاطر ستا له خاطره اشنا
د هجر شپه مې په سلګو تېره کړه

○



○

رقیبه په خبر رانغلې د اشنا خبرې کړه
پرېږده نورې نوې بس هم دا خبرې کړه

خوب به پکې سترګې زه د اوښکو ګرځم
ګلفامه راشه راشه دغه بیا خبرې کړه
نورې دا غمژنې د جفا خبرې پرېږده
کله کله یادې د وفا خبرې کړه
سود مې کله کېږي د ساقي په پیمانو
د تهوې میخانې او د مینا خبرې کړه
نم مې شو د سترګو سپین د اوښکو په سیلاب کښې
بس نور شه راته وایه د خندا خبرې کړه
په خود نه یم تېروس راشې مه کوه ددې
اشنا ما لېونی ته د صحرا خبرې کړه

خاطره چې ونه کړې د بلا چا د غم سودا
د یار د تورو زلفو د سودا خبرې کړه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



یا د شرابو نه نشې وباسه
یا خو تربې زما له خلې وباسه

یا مې د زړهٔ رازونه مهٔ لټوه
یا دې صحرا ته قافلې وباسه

څهٔ لنډه تنګه دنیا ګې شوه دبه
زړې د ژوند لهٔ اوږدې شپې وباسه

د آشنا یاده نور مې مهٔ تنګوه
لهٔ دې سراې نه قافلې وباسه

اور د خاطر د زړهٔ په خونه شو بل
سترګې د سترګو نه يې مړې وباسه



د سحر باده دا ارمان یوسه
یوسه په لوری د جانان یوسه

راشه ارمانه دا آرمان دې لرم
که څې خو ما سره د ځان یوسه

چې دې د حُسن چمن تربے نهٔ شی
راشه د اوښکو باران یوسه

ته چې مسکے شوې زما زړهٔ ته بنګلیه
دا د غمونو ډک جهان یوسه

خو به زړ راشه د آشنا سره
دومره خو راشه دا چشمان یوسه

لږ د خاطر کړه شمع روښنه خاطر
بهار دې راوله خزان یوسه

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



لکه ګلۍ له سپېدو ډکه شه
باڼه د رانیغ کړه له اغزو ډکه شه
چې ستا خوږو زلفو ته ښه نه شوه
زما ښکلي له زولنو ډکه شه
که یې هر څو درسره قصدنیولے
خو زما مینې له پېښتو ډکه شه
چې یې ژوندون له رنګینونه ډک شي
بیا په غصه کښې له نښو ډکه شه
بس پښېماني له زړه نه وباسه نن
وېرېږه مه له اشارو ډکه شه
چې تا یې هم ګرېوان ته خېرې وړي
هم ستا کوڅه یې له تیږو ډکه شه
ښه دې زړه تش کړه چې بیا بیا نه وایي
فضا زما له اسوېلو ډکه شه
بدخواه چې لاس په سینه کېږدي درته
د خپې ځانګې له اغزو ډکه شه
خاطره یار دې په خپې کښې اوسي
ټوله دره له سپېلنو ډکه شه

ستا له سپینه مخه زار زما زړګے شه
هم دا ستا نه سپېلنے او هم لوګے شه

ستا په ژبه باندې هره ژبه خوږند کا
اے اشنا یا اپرېدے یا پېښورے شه

زه او ته د چا ژړا او خندا څه کړو
زما اوښکې دې باران ته پسرلے شه

اوس د ګل غوټې ته لرې شه رقیبه
یا پخپله باندې ګل شه یا ازغے شه

زه خاطر دې نور خاطر کوے نشم
اے رقیبه که پوهېږې نو سړے شه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

د هجران په شپه ړیوه په لاس کښې راغله
خدای خبر چې چرته تله په لاس کښې راغله

رقیبان خو دې اوس ټول راله راتېر شي
چې یار راغے نو وصله په لاس کښې راغله

چې مې صبر اُمید دواړه پسې خوړ کړل
چې لږ ځانه خبرېده په لاس کښې راغله

چې د سترګو د سرو شونډو او د زلفو
تصور یې یوه څېره په لاس کښې راغله

چې په تلو کښې شوه مسکې نو بیا به راشي
اے خاطره بس راشه په لاس کښې راغله

○

○

ترخو ته مې نه زړه کېږي ګله ګله
په خوږو سړے مې کېږي ګله ګله

د دردمندو نظر هغو له په کار دے
چې دلاسه دې ښه کېږي ګله ګله

چې اشنا د چا نه ورک شي موندے نشي
پسې ځان مسې ورکېږي ګله ګله

ښکاري یار مرور نه دے اے خاطره
په لیمو کښې چې اوسېږي ګله ګله

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ستا د ښکلي مخ شمع چې مې وه شوله
جوړه په محفل کښې نوره شپه شوله

راشه لنډه واوره د اُلفت قصه
بس دے نوره نه ده کښې چې نه شوله

د پرې وعدې ښې وي لنډې لنډې
اوس دې هر يو کال راته وعده شوله

تا چې د خاطر خاطر ونه کړلو
ښه شوه ورته ښه شوه اشنا ښه شوله

○



○

بيا به سره ګورو اوس ځوانی ده دروه دروه
څوک کړی دومره غم خو ديوانی ده دروه دروه

اوس ته ايله راغلې چې بس وخت د څنګدن شو
بيا راته ګرانيږی اسانی ده دروه دروه

مې يې چې بازار کې د ښاپست دے ګرم شوے
هر شے په کښې خټلے دے ګرانی ده دروه دروه

نه او ته خاطره نور په څه سره خوابه يو
مينه خو هم دا پښيمانی ده دروه دروه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

شکر چې نهٔ هم ستا د ښېرې شرمه
اوس دې چې نهٔ ښکلېه د کوڅې شرمه

نهٔ به په ځان خفه وکړم چې راشې ته
واړه دې په طمعه کښې ذرې شرمه

د ومره درنه زدې يم که څو لرې يم
لرې به شم نور که درنه دې شرمه

نن خو دې خاطره چې سبا ته دوے
پوه دې نهٔ د مکر په وعدې شرمه



کله چې په فکر کښې د ستا شرمه
لاړه شمه له ځانه خو بيا راشمه

ته که لرې ضد نهٔ خو ښتو لرم
اوس د ر سره څرنګه پخلا شمه
خيال او تصور ته به سلام وکړم
نهٔ که د خپل زړهٔ په تماشا شمه
تاو چې شي د زړهٔ نه ستا د مخ لمبې
کم چې ستا د زلفو په سودا شمه
نورې دې د مينې لارې سمې کړه
خدايږ خبر چې کوم پلو خطا شمه
عشقه راشې ځاى لره دې راوستم
اوس به نهٔ د ستا له د دُنيا شمه
نن دې د پرون وه د راتلو وعده
نن څنګه په طمع د سبا شمه

وړې چې غريبو نيولى راکتلى دى
لره به خاطر ته په خندا شمه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



دلارې خاوره شرم د بېنو ځنې وتلې يمه
اشنا په تا پسې له تلو ځنې وتلې يمه

د آشنا مخه نور مې سرے تېر وے له شي
نه خو د اور او د اوبو ځنې وتلې يمه

په بنه ښېره به دې نه لېر وېر نازېده مه اشنا
نه مې اوس پوه دے د ښېرو ځنې وتلې يمه

تا خو به نور راته خندلي وې چې دا څه وشي
که په ټولو دې د کوڅو ځنې وتلې يمه

دغه داغونه مې دي بس دومره خاطر مې وشي
نور د کړلو د کلو ځنې وتلې يمه



تو به خنګه تېرېږي په هوښيار باندې وختونه
نا پوهه هسې تېر ګړېل په قرار باندې وختونه

هېچرې هم سخيان خو د سبا غمونه نه کا
له شرمانو نه تېرېږي په خرواد باندې وختونه
دا تېر وختونه پرېږده له انکار سره چې تېر شو
ته راشه نور دې سر کړه په اقرار باندې وختونه
نه دے هسې کرم چې څوک په غم کښې دروند بنګارېږي
په هر چا باندې تېر شي په خپل وار باندې وختونه
ګوره د مغرو په ښهر کښې نوره سودا نه وک
تېر چې شي د ښکليو په بازار باندې وختونه
لکه باد هسې تېرېږي وخت په روغ او په بيمار
ودرېږي نه ودرېږي په بيمار باندې وختونه
دمغ دې تصور کرم ځکه مخ مې داسې تور دے
خبر نه يې ګړېل تېر مې په انکار باندې وختونه

ما خنګه به لټون کړے د دنيا له غم نه خلاص يم
خاطر ما ښکلي تېر ګړل په خپل يار باندې وختونه

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ما په مثال لکه پتنګ وګڼه
ته دې د شمعې غونډې رنګ وګڼه

که مې کوثر شول نصیب د دیدن
بیا مې شهید د عشق په ننګ وګڼه

زمکه بستر وی لېونو ته مدام
زړګیه ته یې هم پالنګ وګڼه

لکه چې خومره ستا غمونه دي ډېر
پراته مې ټول په زړګي زنګ وګڼه

خاطر کچکول د ګدا واخستلو
اشنا دیدن په خان قلنګ وګڼه.



د ستا د خولې چې فیصله ما ته شوه
نوره د زړه مې حوصله ما ته شوه

شونډې دې هسې رېبېدلې نه وې
په زړه دې بله څه راتله ما ته شوه
نو دې ساقي څه جرم نه دے کړے
تشه لا لاسه مې پیاله ما ته شوه
که به عوض کښې یې هر څه غواړې ته
دا مې په برخه رسېده ما ته شوه
لاس مې یې واخه چې جاسوسو ته ځې
مابنام څونه دے چې روڼه ما ته شوه

خاطره پرېږده د دروغو توبې
نوره زما او ستا ناغه ما ته شوه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


نور زهر په خوږو کښې دافسون مه راکوه
دا بس دے اشنا نور دانړه چاودون مه راکوه

ته تل کړه ستمونه خو په خپله اے اشنا
سزا د رقیبانو په لمسون مه راکوه

چې څو وکړې وعدې نو هومره لاشې ېې وعدې
دا دې وی دِر پاتې څو زبون مه راکوه

که زه چرې په خود وے نو په تا شیدا کېدم
په سترګو ماله یار بیا د جنون مه راکوه

هر څو که زه خاطره د اشنا اجل ته مخ شوم[1]
دګوړ مبارکی څو په ژوندون مه راکوه

---

[1] دیوان او منزل دواړه کښې مصرع داسې ده – هر څو که زه خاطر د اشنا اجل ته شوم

ته څو وایه زه به خندا کړم — زړګیه لېونیه
خندا به کړم او خندا به نه کړم — زړګیه لېونیه

تا څو وې آبادی پرېږده، ما څو پرېښوه دلته خندا ده
په صحرا چې ګر ځېده کړم — زړګیه لېونیه

چې اشنا کړې سترګې پورته بانړه ستا په لوړ دادوئی
زه یې کوم طرف کا بړه کړم — زړګیه لېونیه

زه خاطر در ته حیرېم چې په خندا باندې راوینې شوې
چې په خندا دې اوس وه کړم — زړګیه لېونیه

---

له منزل دواړو دیوان کښې (ورته) دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څېګر يې شو کباب په لمبو او د وکتېده
په ما دے يک تنها که په هر لور وکتېده

چې لرې د زړه دې شوم د وصال په تمنا
د ستا د کنګرو کانو په ما شور وکتېده
څېګر يې تش ګوګل دے راشه وکړه تماشه
د سوو فريادونو تنګ تېکور وکتېده
زړګيه اُميد لنډ کړه پس له دې نور له وصاله
بېلتون دې ځواني مرګ شي اوس يې زور وکتېده
سپين مخ دې رابنکاره کړه د نقابه تکه نمر
ور بل دې پرې د ورېځو غونډې خور وکتېده

خاطره خداې خبر که بيا ديدن وکړې ديار[1]
چې بيا د غمازانو داسې زور وکتېده

اشنا وې دا لوګي دى د خاطر داسې پلو
رقيب وې ما زيګر شو په تن اور وکتېده

۱ـ منزل لمنعا او دیوان خاطر کښې داسې دي: څه خاطره خداې خبر که دیدن وکړې دیار
۲ـ منزل لمنعا او دیوان خاطر کښې تش ... شته ده، چې معنې یې بدلېږي او قافیه غلطېږي



لوے درياب د مينې نه شي په وار زړه
شومه ياره بيا د ستا غونډې په نه زړه

چې به خله کوى يو او په زړه بله
د هغه سره به مينه کړې په څه زړه

سوى رنګ ته يې لږ وګوره دلبره
ما نيولے ستا د حسن په لمبه زړه

بېګا ستا په انتظار کښې شمع رويه
د هر ستورى سره پورته يې خاته زړه

بيا يې خوب واړه تېرېږنه او هيبت شي
د هجران چغې چې وشي په فُده زړه

بېرغم نه دے چې يې وکړې اے خاطره
د بېرغمونه دى کوه يې په ساړه زړه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

داسې بله شپه به په نصيب سره راځي
په عمر کښې راځي خو د رقيب سره راځي

خوشحاله وي په غم کښې هم[1] بېداره شاعرم
را د روي خوشحالۍ دې د حبيب سره راځي

څو چې[2] په تندي ېې د ازل ليکلي نه وي
دومره زحمتونه د غريب سره راځي

خندېږي او ګډېږي سره ګلونه د صبا
نغمې چې د بهار د عندليب سره راځي

نور خلق که رغېږي په دارو د طبيبانو
خاطر ته مرضونه د طبيب سره راځي

○

[1] له مترلې نه ار ديوان خاطر کښې الفاظ "هم" نشته دې مصرعه ېې وزن نه لري سمي کړی

[2] مطرچې ، ترکيب مصرع ېې معنی کړی



○

عکس د ستا زما د سترګو له زنبار نه وځي
د زړه له کوره ېې بېلتون په يو ګذار نه وځي

داستا کوڅې له زه د روغ ځان په خيال نه د ځمه
چې تاو را تاو نشي د ستنې سوم نه تار نه وځي

اے شمع د وېره راشه نور د غه ضد ونه پرېږده
چې په مئين دې هره شپه د انتظار نه وځي

د ستا د عشق په سمندر کښې ېې ژوندون څپې
چې په ربښتيا خو سمندر وي د انکار نه وځي

شپې د اوښکو د خاطر پسې ايله زياتې شوې
ښکاري د ستا د ځوانۍ اوس د شو بهار نه وځي

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې کتے در ته لاړ په هجره نه شم
د ستا سترګې چې کونجې د زړه نه وځي

خدای دې هغه وخت را نه ولي صنمه
چې مې ستا د دیدن شپې د زړه نه وځي

که د سترګو نه مې وځي د ستا سترګې
دې وېل که مې جګرې د زړه نه وځي

موده پس سره یو ځای شو په محفل کښې
ستا بانه مې ښې نېزې د زړه نه وځي

جمع زړه له اشنا چې زه د ستا یم
چې ته زلفې مې خورې د زړه نه وځي

د مخ لرې کړه پلو زه دې لوګے یم
چې مې ستا د مخ لمبې د زړه نه وځي

ترهغې به دې رقیبه زړګے وچوي
چې خاطر د معشوقې د زړه نه وځي



زړګیه تا وې چې دردونه څه دی
دا په کوګل کښې دې ترګونه څه دي

زړه په بنو مې وله ځوک یې وینی
وهه وهه دا سترګکونه څه دی

بس خوره که مخ دے نوګلنامه دے ستا
دا د خورشید قمر مخونه څه دي

نه ده اسانه اشیانه مې د زړه
لا د ستم دې تندرونه څه دي

د ستا منزل دې دومره نور لرې شي
ګودر پرندو ته تیندګونه څه دي

که مې ذرې کا نور نو لا به بنه شي
ستا په فضا لا وسعتونه څه دي

چې مرور وې یو ساعت یې ګوره
چې وي پخلا نو بیا ګلونه څه دي

چې مرور یې پېښېدے څو نه شي
ما ته په غلا غلا دیدنونه څه دي

دا په خاطر ګلفامه ستا د شونډو
وي په خاطر دې پرهرونه څه دي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې پښېمان نهٔ شې پهٔ بیا کښې څهٔ دی
پرېږده راوګوره پهٔ دا کښې څهٔ دی

زما پهٔ اوښکو کښې خندا ده دستا
یاره د ستا پهٔ دې خندا کښې څهٔ دی

شمعې د نن شپې نه سبا جوړه وه
سبا به مړه وي په سبا کښې څهٔ دی

زړهٔ مې يې ستړے پهٔ تورو پونو کړلو
ګله دا ستا پهٔ دې ګروا کښې څهٔ دی

خاطره تهٔ چې ما ته نهٔ شې کتے
لږ ده مې پوه که چې پهٔ ما کښې څهٔ دی

ګله د ستا د خندېدو شپې دی
زما د اوښکو د شېبو شپې دی

پهٔ دا لمبه تنګ وخت کښې مې حال وپوښته
دا مې د ژوند د تېرېدو شپې دی

پهٔ تا اختر اوس د ځوانۍ راغلے
دا تورې شپې د پسرلو شپې دی

د بخت سپوږمۍ ته به راخېژي ګله
اوس مې د ژوند د محفلو شپې دی

دا زهٔ خاطر درنه تېرېږم کومه
د بېلتانهٔ دې نورې څو شپې دی

خاطر د وینو غرغرې وکړلې
دا يې د ژوند د ختمېدو شپې دی

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د ستا په غم کښې خوشحالۍ پټې دي
په دې زندان کښې ازادۍ پټې دي

زړهٔ کهٔ تهٔ غواړې نو لېونے خو نهٔ یم
د مخ سره زلفې رسۍ پټې دي

په خوږو زلفو کښې راګورې په چل
په دې ښکلو کښې دې هوسۍ پټې دي

په کومو سترګو به بیا بیا درځمه
په اشارو کښې دې ټکۍ پټې دي

خاندې چې جوړې شول د زړهٔ زخمونه
ایله په وینو یې خوږګۍ پټې دي

څهٔ شو په خولهٔ چې دې رخصت راکړو
ستا په نظر کښې تسلۍ پټې دي

په سرو سرو ګودم تورو سترګو ته دې
چې په کښې څهٔ بلا مستۍ پټې دي

ستا له سینګاره یې ښوانې شه لوګے
وېرې په خادو کښې ښوانې پټې دي

د ستا په خیال زما خاطر شو ایرې
خو د اُمید په کښې سپرغۍ پټې دي



زما چې دا مدام دغه دلبر ته سترګې دي
نورې نهٔ وینمه سترګې کهٔ هر چرته سترګې دي

لهٔ هره دره ورو تلې سترګې مې آشنا
کهٔ ونړې دي کهٔ تنې خو دې در ته سترګې دي

تهٔ تل را ته مرسېږه په دې عمر مهٔ شه جوړه
زما خو هم ګلفامه دې پرهر ته سترګې دي

د مینې سمندره سترګې غرقې مې کړې تا
وتلې مې له تا کله بهر ته سترګې دي

په اوښکو مې کړه ستړه وږه ونه مې د عشق
کهٔ ګل یې د مخ رازي خو ثمر ته سترګې دي

را وهٔ چې خبرۍ ښه وه په وخت سترګه د سبا
زما خو هم ختلې دې سحر ته سترګې دي

خاطره کهٔ خوشغوارې نهٔ وهٔ لهٔ تا د یار دیدن
نهٔ نهٔ شم ور کتلے زما نمر ته سترګې دي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

نن خو ما ته هسې بله د نیا ښکاری
تا چې نهٔ وینم نو څله دنیا ښکاری

تنګ ګوګل یم د نیا شي چې تهٔ یاد شې
بې تا تنګه لاګوګله دنیا ښکاری

بې لهٔ مانه هسې ګله صحرا ښکاری
بې لهٔ تا نه هسې ګله دنیا ښکاری

چې پهٔ هجر و وصال نه پهٔ کبې پوهېږم
داوستا ده کهٔ یې خپله دنیا ښکاری

هیڅ خاطر دې خزان ونهٔ کړو خاطره
شګنه خپره او بې ګله دنیا ښکاری

○



○

زړهٔ یې کهٔ هر څو رانه هر څهٔ غواړی
هیڅ نهٔ دے خبر چې هر څهٔ زړهٔ غواړی

اے ماشومه زړهٔ تهٔ راته ښهٔ واوړې
مخه رانه غواړې چې ما نهٔ غواړی

تل به بې پروا وی ګرنګونو نه
څوک چې خپل منزل ته رسېدهٔ غواړی

زړهٔ او د نظر ځنې دې خلاص کړمه
نور دې لا ښا ښت راځنې څهٔ غواړی

هر سړے د ستا د دیدن وږ نهٔ دے
را څو هم زړهٔ غواړی هم لېمهٔ غواړی

خېر نے کهٔ زهیر شوم ځان ته ګران شومه
بد هم پهٔ کبې وی چې څوک یې ښهٔ غواړی

خلق پرې تېر شوی لهٔ سرونو نه
ځلهٔ ورنه خاطر پهٔ تشه ځلهٔ غواړی

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زما زړهٔ او د ستا سترګې سره پېژني[1]
نو ربه بد کا چې پهٔ دې منع کېږي ځاښېږي

کهٔ خبر نهٔ راکوې خبر دے ښېرې مهٔ کړه
سټین زړهٔ چې ستا له مینې نهٔ صبرېږي

کهٔ دې غم په ما انبار وی پروا نشته
د ګلونو لاندې ښانګه نهٔ ماتېږي

چې مې ورتې اشنا وائي خفه شوې؟
زړهٔ مې بنهٔ شی په ګوګل کښې نهٔ ځائېږي

زهٔ خاطر داسې هېبت ستا د راتلو کړم
که پانه چې پهٔ ونه کښې رپېږي

[1] پوهېږي



ما وې تن به مې زړهٔ وچوی خو دردونه دی تېرېږي
پرېږده څهٔ کړې تپوسونه خو وختونه دی تېرېږي

جوړېږې تا اراده کړې د راتلو زما پهٔ لوری
تن مې سترګو ته د وړاندې مشالونه دی تېرېږي

جانانه زهٔ چې زغملے شم کهٔ وی د ستا د لاسه
هر څو کهٔ ستمونه طوفانونه دی تېرېږي

ستا د حسن پهٔ بهار کښې یاره نوې رنګینی نشته
دے دهر[1] پهٔ خاطر باندې غمونه دی تېرېږي

[1] منزل له منزل دیوان کښې دا الفاظ نشته چې مصرع پرې پوره معنیٰ کړي وه

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څۀ چې پرې په ما زما د يار سره جوړېږي
خبر دے زما زړۀ د انتظار سره جوړېږي

کله په يو رنګ شي بيا سل ځل په بل انداز
سل ځلې ديدن د خپل خپل وار سره جوړېږي

ګوره وا زړۀ څنګه په سترګو کښې اقرار کا
بس خو د يار شونډې د انکار سره جوړېږي

څۀ په خاطر کيږي نن د ښکليو په صفت
هغه وخت راغلے دے چې دار سره جوړېږي



د وخت د ګذارونو چې داغونه نۀ جوړېږي
زما سره سپرليه ستا ګلونه نۀ جوړېږي

يو ځلې يې وران کړے ستا تصوير راله اشنا
غم مغشې زما هغه فکرونه نۀ جوړېږي
راضي شه د يار غمه د دُنيا د غم سره
يو کور چې ډګ زړۀ په کښې برجونه نۀ جوړېږي
اے زړۀ ته راته وائې چې يار راشي څۀ به کړو
لاخوب به څنې وړاندې تعبيرونه نۀ جوړېږي
زۀ خو يې اشنا لا د ږغونه لېرې وم
د عمر لړونو ته زنځيرونه نۀ جوړېږي
زۀ تا ته په قدم کښې او ته ما ته وې ولاړه
زما او ستا په منځ کښې پيغورونه نۀ جوړېږي

خاطره يو ورځ نۀ ده نن زړۀ جوړ او سبا وران
چې ورپسې کوې غمونه هغه زړونه نۀ جوړېږي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به ایله څۀ دلبرنه پاتې کیږی
ګوره چې یو کړ دې چې د پښو نه پاتې کیږی

زړۀ مې چې اشنا د ستا د تلو نه پاتې کیږی
خود به راته غم د خوشحالو نه پاتې کیږی

پېغې مې د زړۀ د لمن ورڅ ږدې لاړې
غم دې پۀ کښې ډېر شو د نیو نه پاتې کیږی

نۀ بلېدۀ صبح اور دمغ دې. دا مې زړۀ وۀ
ګوره چې به سکور د سرو لمبو نه پاتې کیږی

تا چې پۀ کړو وړو د عشق بوتلم زړکیه
څکه سې لاړې د پرندو نه پاتې کیږی



وی به مې ګواه سبا دا سپین سپین دیوالونه
دغه تور لوګی چې د ډیوو نه پاتې کیږی

یاد مې د دنیا لۀ یاده مخکښې مخکښې سړی
څکه به د ستا د یادېدو نه پاتې کیږی

باده د بېلتون چې مې پۀ لړی بیا را نۀ شې
سترګې مې د یار د تماشو نه پاتې کیږی

زړۀ له مې دارو دی او کجل مې د بصر دی
خاورې یې خاطره چې د پښو نه پاتې کیږی[۱]

بیا را غلله شپه او ځلند ستوری یار را نغې
بیا به مې خاطر تن د خوبو نه پاتې کیږی

۱ د دوران کتنو مصرع داسې ده: خاورې یې دی چا ته چې د پښو نه پاتې کیږی

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

سترګې دې کړه برنډې چې وختونه وارخطا شي
زلفې کړه پرېشانه چې ګردونه وارخطا شي
څو به کړې وعدې راته د نن او د سبا
ډېرې شپې وعدې کړه چې څو بونه وارخطا شي
زه درته له داره په محفل کښې کښېنم نه شم
سترګې چې راواړوې نو نړونه وارخطا شي
عقله چې یې ووینه زلفې تار په تار
بس څو یو ګرېوان ته یې لاسونه وارخطا شي
دومره اے زړګیه ! ځان ته مه شکوه شکلے
وبه چوې له واره که دردونه وارخطا شي
غله سره د مینې په محفل کښې چې یو ځاې شي
نړونه وارخطا شي، چې رنګونه وارخطا شي
مل ئې کړه د زړه یې که په خوله نه بیانېږي
داسې ادا وکړه چې دا دونه وارخطا شي
څکه زه خاطر دې دومره وصف کړم اشنا
پرېږده چې د خلقو درته زړونه وارخطا شي

میاشتنۍ ژوندۍ پېښور اکتوبر ۱۹۵۹ع

په ارمان د نادانۍ شي چې هوښیار شي
خوشحالي او خوبي ورک شي غم یې کار شي

تخت و تاج او بادشاهي یې په کار نه وي
په ارمان د روغ صورت شي چې بیمار شي

په توبه باندې ډېر بد ښکاري چې زوړ شي
ښکاري ښه چې په ځوانۍ کښې توبه کار شي

لېونۍ په کاڼو لګي ورته خاندي
د هوښیارو څنګ دن په یو ګذار شي

خپله غمه د یار غم یې لښ مېلمه دے
تابه وکړمه وار وکړه که دې وار شي

ته دې خپلې سترګې وګوره چې څه کا
د خاطر زړګے به څرنګه قرار شي

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

د دې دنيا نه چې ګلان ورک شي
غنې د بلبل به په بوستان ورک شي

دا ته چې ژاړې ستا ژړا هېڅ نه ده
لکه درياب کښې چې باران ورک شي

هره ورځ چې سود په لېونتوب نه کېږي
چې په منګل کښې مې ګرېوان ورک شي

څوک به لټوه مه ستا ورک شوي پلونه
چې د خاطر په کښې چشمان ورک شي

○



○

چې يې رون دے د لېمو په پيمانو شي
سو دې کله بيا د لب په بهانو شي

څو چې خداې راکړے نه وي نو به ژاړم
د خېبر فصلونه تل په بارانو شي
کله د ستا په نوم بدنام يم پروا نشته
لېونۍ غټو نه تل په لېونو شي
زه د ستا لېونو سترګو نه ډار نه کړم
کله خوږونه دې د سترګو لېونو شي[1]
هغه شپه چې مې د ستا زلفې په لاس ورې
دغه شپه د سپېلنۍ دوړاند بسو شي[2]

چې دنيا د کور ته دې راشي پروا مه کړه[3]
لے خاطره خاطر تل د مېلمنو شي

○

[1] کله دا د وا په شعر وند متن لر نه کښې نشته

[2] ديوان خاطر کښې دا مصرعه داسې ده : چې دنيا د کور ته راشي غلط ده سوزي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا چې خوږې زلفې کونجې راتاو شي
زما د زړهٔ غُنچې بسره راتاو شي

پهٔ سره پړه لوپټه کښې تاوشي
لکه وړانه بړ بوکه را تاوشي

نهٔ به مې بیا کړې لېمې د غرونو
نهٔ به دا ستا سترګې هوسۍ راتاوشي

پهٔ زړه بد بوکړې خوبه وانهٔ وېم لهٔ تا
نهٔ به خاطر ستا لاځوانه راتاوشي



وړاندې به مې دا وې چې کاتهٔ به شي
اوس چې پهٔ ژوند پوره شوم وایم څهٔ به شي

وایم ستا بنړو ته د زخمي زړهٔ نه
بس دے کهٔ وی داسې نو ساړهٔ به شي

نهٔ وم هلهٔ داسې جدائی خبر
ما وې پهٔ ساعت کښې تلهٔ راتلهٔ به شي

وې کړو تپوس چې راځه څهٔ غواړې
ما وې چې کهٔ راشې نو خرابهٔ به شي

ستا د حسن شمع او دا شوق زما
نهٔ یې پرېږدی دواړه سره مړهٔ به شي

هر وخت چې ژړا کړی خندا نشته دے
زړهٔ خو د خاطر اوبهٔ اوبهٔ به شي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

خزان لاړ شی بهار راشی ګلان خوشحاله شی
بلبل يې د چمن وی بوراګان خوشحاله شی

ښ خو مهٔ راکوره مخ دې بل خوا واړوه
پرېږده چې نا پوهه رقيبان خوشحاله شی

شمع چې بلېږی د محفل د پاره خاندی
زړهٔ کښې داسې وايي چې عاشقان خوشحاله شی

راکړه جفاګانې، ستمونه کړهٔ غمونه ډک
زړګے د خاطر وچوه خو چې خان خوشحاله شی

○



○

راشه په کوڅو کښې د جرګو خبرې نهٔ شی
چرته چې په مونږ کښې د پردو خبرې نهٔ شی

ډېرې شپې وله راشه چې لهٔ يو بل نه خبر شو
ياره په يو شپه د ټولو شپو خبرې نهٔ شی

وايمه لهٔ ځان سره چې دا به ورته وايمه
راچې شی آشنا په حوصلو خبرې نهٔ شی

زړهٔ او ته چې وويښو لهٔ ورايه سره پوې شو
چا وې چې په سترګو کښې د زړو خبرې نهٔ شی

ياره ستا د هجر اوږدو شپو شوګيره کړے يم
ګوره چې مې اوس په اسوېلو خبرې نهٔ شی

خدايې خبر خاطره زهٔ بيا چرته تهٔ بيا چرته
پرېږده اوس په تلو کښې د راتلو خبرې نهٔ شی

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

دا ستا په سترګو کښې به څه پاتې شي
رقیبه یار که ئې په خُلهٔ پاتې شي

ستړے من دور سحر وختي پاڅېږي
په شوګیرو منین وعده پاتې شي

یو ځلي نیغ په دې لار تېر شه آشنا
چې دې کاڼه وانړهٔ کاته پاتې شي

افسوس چې ستا په خیال کښې څه ښکارېږه
دغه ارمان به ئې په زړهٔ پاتې شي

وستایه ډېر د یار تراخهٔ خاطره
چې په کتاب کښې دې خوابهٔ پاتې شي

○



○

زړهٔ په دې نهٔ دے چې ناولے مخ دے
چې کوم یې خوښ شي هغه ښکلے مخ دے

مخونه ډېر دي خو دا مخ ئې خوښ دے
والله به تهلو کښې وتلے مخ دے

پرېږده چې اوښکې ئې بهېږي په مخ
دا بې ګناه جانان رتلے مخ دے

څه وشو تا که دیدن بند کړو په ما
خاطر په زړهٔ کښې ستا ساتلے مخ دے

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ځوک چې ستا د ګرانې مینې طلبګار دے
هغه کله لۀ غمونو نه وزګار دے

ستا سینګار زما په سترګو کښې غرېږي
چې په کوم لورې زۀ ګورمه بهار دے
د منصور غوندې نوم دے په دنیا کښې
کۀ یقین دې شي نو هر عاشق په دار دے
خندوی، تغیروی چې یې ستا مینه
بس هم دغه یې خزان او هم بهار دے
دا رقیب دې څۀ په مخکښې مخکښې کېږي
بس د ستا را باندې هر منت ګزار دے

کۀ دې یار لۀ سترګو ووتو خاطره
خپل غزل مخې ته ونیسه دا یار دے

---

میاشتنۍ غُنچه پېښور

اګست ۱۹۶۰ء



○

خوږ خوږ یو د مینې په ترخو کښې انتظار دے
ښکلې تماشه په تماشو کښې انتظار دے

ستا لنډو وعدو چې په ما څومره اوږدې کړې دي
ښۀ دے چې د ژوند په ورځو شپو کښې انتظار دے
مۀ کړه ضبطه مه چې راله اوښکې وچې نۀ کړې
ورېږي دې د چا په دې شېبو کښې انتظار دے
تا چې د وفا پلو په ما باندې ونۀ نیوۀ
ما ته څۀ د هجر په غمو کښې انتظار دے
لاړې د اُمید د زړګي شنې پاڼې یې وچې شوې
بیا درته سپرلیه په راتلو کښې انتظار دے
ما وې چې کۀ نن نۀ وی سباله به دې خوښه شي
ډېر مې درته کړے په اسرو کښې انتظار دے
کله به شي ستا د حُسن شمع راته بله
ګران راته د زلفو په تیارو کښې انتظار دے

ښه ده چې خاطر دې دومره مخ ته لا کتلی وو
ښکلیه ستا دیدن په سرو لمبو کښې انتظار دے

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خدایه خوږه مې وفا زما دلبر دے
چې لۀ غمه یې زړۀ مرم پۀ دردِ اختر دے

دهجران د لاسه شپه او روځ ژړېږم
ځکه داسې مې پۀ اوښکو ګرېوان تر دے

یا خو زۀ ورته نظر کولے نۀ شم
یا خو دے وږم پۀ لېمو ښې نو دوړ دے

اوس مې سود پۀ بل بشر د زړګي نۀ شي
چې لېدلے مې د یار ښکلے بشر دے

تور بانړۀ د یار دغشو پۀ مثال دي
چې ویشتلے یې زما د زړګي سر دے

دریغه زۀ خاطر خوږوه پۀ سپېل قصور کې
چې پۀ خټه باندې زما نه مرور دے



ما وې ځان را ته اشنا د ستا پۀ څېر دے
دې وې ور وروستو به ته پوه شې څۀ وایې خېر دے

دې وې زړۀ کۀ څېرې ستا زما پۀ زلفو
ما وې ستا هر یو کلپ ورته کاوشېر دے

دې وې زۀ یمه هوسېه پۀ مېږو روڼه
ما وې زړۀ زما د لمبو غورځنوشېر دے

دې وې بیا تۀ مخ ښکاره کړه کۀ پښتون یې
ما وې هر پښتون پخوا لۀ سره تېر دے

ما وې زۀ خاطر دې هر وخت یم پۀ طمع
دې وې راشه دلته کښېنه غم مې ډېر دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شاید چې حُسن د اشنا ئې دلبر نه ډک دے
د زړهٔ جهان ئې د لوګو د اسویلو نه ډک دے

خوبونه ئې ستا په بڼو غشو ده ویشتنه د زړهٔ
ګنې وطن خو هسې یاره د ازغو نه ډک دے

د ستا نصیب شه خوشحاله د بې غمۍ خوبونه
زما د خوار غریب نصیب د شوګیرو نه ډک دے

نمر مخې مخ ته ئې لهٔ وړاندې نا خبر کتلی
نن را ته ځکه دا جهان د پلوشو نه ډک دے

راشه ګلونه ګواهان دی په صحرا کښې زما
چې ټول چمن زما د اوښکو د شبنم نه ډک دے

دا حسرتونه دا غمونه تنګ ګوګل زړه کښې
لهٔ دې خو ګوره بنهٔ دے هر څو کهٔ د تیارو نه ډک دے

زړهٔ ئې یوه د لیمو تیپ په کښې سودا کړله
بازار د حُسن خو لهٔ ډیرو تماشو نه ډک دے

همدمه مهٔ را یادوه دا تیرې هیرې قصې
زما زړګے خو مختنے لا د ګیلو نه ډک دے

زما خاطر ئې لهٔ شکونو لهٔ فکرونو ډک کړو
د مغ کتاب دې راله راوړه د قیصو نه ډک دے



تک تور سورے د ستا سورے ورد بل دے
چې دې اور د بنګلي مخ ترې لاندې بل دے

چې څو څُم په مکتب کښې لا مزل زیاتیږی
اشنا ستا د دې منزل څنګه مزل دے

چې ئې شک په کومه لار دے سودائي شوم
نور ئې هیڅ مه پوښتنه دے خو ستا پل دے

چې اشنا دې په کښې اوسی اے خاطره
خیبر وګڼه حرم کهٔ ځو شډل دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوږمه وږمې پهٔ زړګي باندې چې غم دے
د آشنا سود به پرې نهٔ شي وائي کم دے

زهٔ چې مست پرېشان او سرګردان يم
مرے يو غم يې لکه زلفې پېچ وخم دے
د هجران د لاسه شب و روز ژړېږم
راشه يو وارې پهٔ سترګو مې تور تم دے
هغه خاوره مې دارو ده کهٔ چا راوړه
پهٔ کوم ځاې باندې يې ايښے چې قدم دے
ټول عالم يې ورصفت د سخاوت کا
ګيله څهٔ کړم چې د اخپل نصيب مې کم دے
زهٔ خوشحاله مست شومه پهٔ خندل يې
خلقه ما او پهٔ جانان کښې کوم يو کم دے
چې دلبرې پهٔ ژړا پورې نن خاندي
نو مخ شوے مې د سترګو کله نم دے

حکيمانو له مهٔ درومه خاطره
د يار شونډې دې پرهر له مرهم دے



ستا پهٔ انتظار کښې ماته کال څهٔ دے
دومره لا ماندهٔ نهٔ يم ستا خيال څهٔ دے

سوزې هم هغه چې پرې بلېږي اور
خاندهٔ لے اشنا تاته ذغال څهٔ دے

تا کهٔ پهٔ شالهٔ کښې پټه ولېدم
بيا به داسې وائې چې مشال څهٔ دے

زهٔ دې مرے يو غم د زړګي داغ کړم
ماته لا د ستا پهٔ جبين خال څهٔ دے

ما خو درته وېل وړمه مې مهٔ ګوره
وګوره خاطره اوس دې حال څهٔ دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې نړۀ مې ستا پۀ تور دے پۀ بل تور مې پېژندونه دے
نظر مې ستا پۀ لور کړم پۀ بل لور مې پېژندونه دے

اے مجرو چې مې ورانه نۀ کړې دا د نړۍ خونه
ارمان پۀ کښې د یار کړمه پۀ کور مې پېژندونۀ دے

دا نۀ چې صرف بنا پست باندې شپه دے زما زړۀ
د ستا پۀ مخ دې سوزې خو پۀ اور مې پېژندونۀ دے

پۀ غیر ستا د محفل ځنې مې نۀ شي ځۀ گذران
در دوی به خاطر خو پۀ پېغور مې پېژندونۀ دے



چې لپ نظر مې د بصر پاتې دے
جوړې منزل ته وړې سفر پاتې دے

شپه کۀ اوږده د خوږو زلفو ده څو
وار دې د سپین مخ د سحر پاتې دے
زار دې د مینې دلبر ځنې زړۀ
لا مې پۀ مینه کښې ځیگر پاتې دے
تېرس د شپې وکړه کۀ وکړې یقین
ستا انتظار رانه سحر پاتې دے
د انتظار ډیرې چې تته نۀ شي
اوس خو شپه تېره شوه سحر پاتې کړ
ما خو د ستا پۀ سر وطن گڼلو
خبر شه اوس رانه خبر پاتې دے
نۀ او انکار لۀ تا پۀ کومو ستر کو
لا مې د تن د پاسه سر پاتې دے

نۀ د دربار پۀ خُلۀ رخصت شکه شم
د یار خاطره چې خبر پاتې دے

[illegible]

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
(c) ketabton.com: The Digital Library



○

سترګو دې چل چې د خندا زده کړے
سترګې زما چل د ژړا زده کړے

په لندو پلوونو به يې څنګه څـــمه
ما خو تل تنګ چې د صحرا زده کړے

ن دې وڼه وې په وعدو کښې راته
صره وعده کښې دې سبا زده کړے

خاطره طمع د وفـــا مه کـــره
اشنا خو يو چل د جفا زده کړے

○



○

د ځان سينګارولو کښې مسکې وې ما ليدې
زما د زړه په سولو کښې مسکې وې ما ليدې

پرهون مې څه پرواه ستا په ګذاب نه وه صنم
زما په زړه ويشتلو کښې مسکې وې ما ليدې

شايد چې وه درياده حيرانتيا مې هغه وخت
اوښين ته په کتلو کښې مسکې وې ما ليدې

خفه يمه په دا که بنه يې ستا له سيې کړم
رقيب ته په ويلو کښې مسکې وې ما ليدې

لبان دې لکه پاڼې اننګې دې سره ګلونه
سحر چې ته په ګلو کښې مسکې وې ما ليدى

خبرې په غصه کښې کېنې هم د چا خاطره
اشنا چې په کتلو کښې مسکې وې ما ليدې

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اشنا ې نن لیدهٔ تېرې وعدې را یادېږي
دا وصل که هجران وهٔ، چې کیلي را یادېږي

بس وهٔ ې ستا ارمان پهٔ زړهٔ کښې نن خلاوړ[1]
دا نهٔ چې ماته نورې مرحلې را یادېږي
ستم چې فراقجن به نن سبا دا یادېږي[2]
لهٔ ما چې اشنا لاړهٔ ماته شپې را یادېږي
کهٔ هر څو شړي، نن یاد له چې هېر دې نشم بندٔ[3]
پخوا ې لا پهٔ زړهٔ کښې اوسېدې را یادېږي
وم دومره لېوني ستا د پرېشانو زلفو زهٔ
چې چرته خو به خاورې با دېدې را یادېږي
زما د زړګي یادشي د مخکې نظر سره
پهٔ هېڅ نهٔ هېرېدلې هم راسي را یادېږي
دا نهٔ چې آهو چشمه اوس ې غټې ستا یمهٔ
د ستا خمارې سترګې لا زېږې را یادېږي

بېګا چې شمع دویه هرڅهٔ هېر وهٔ د خاطر
د ستا د محفل ښکلې تماشې را یادېږي

زما د اُمید ونو ورځې شپې وغزېدې
هرڅو ستا د منزل کهٔ مرحلې وغزېدې

اوس چېرته ترېنه لاړ شم لېوني چې کړه یار
هرځای کښې ېې د زلفو زولنې وغزېدې

نمر مخینه اوس دې سې لارې ماته کړه کړکې
نظر کهٔ ستا د مخ پرې پلوشې وغزېدې

چا هسې داسې ږدې چې خاطر کړو یار ګلاه
پهٔ دې د رقیبانو جنازې وغزېدې

---
[1] لهٔ مصرع ېې معنی ده

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ښکلې وې ، وخندېدې شونډې
خود به د سترګو خوښېدې شونډې

دا ته چې لاړې شونډو مې غوړ ونه وې
بس کۀ په تا به یادېدې شونډې

سترګو له زۀ کۀ قسمونه ورکړم
زړګیه ته ګله پرېږدې شونډې

شول جوابونه د خاطر نه خطا
په کشمکش کښې رپېدې شونډې



پوه شومه په دې چې په کنځل کښې خنګه ښکارې
وخانده یو ځل چې په خندل کښې خنګه ښکارې

ستا د تصور په یو جونګړه کښې اوسېږمه
ته خو راته وایه په محل کښې خنګه ښکارې

خومره به په باغ کښې ته په غوټو وې خپل ځان ته
ګله د آشنا په سره منګل کښې خنګه ښکارې

سترګې یې په ما کښې دي چې ګورمه هر چا ته
نن راته اے شمعې په محفل کښې خنګه ښکارې

تا به په آئین کښې ځان لیدلے په یو رنګ وی
راشه د خاطر په هر غزل کښې خنګه ښکارې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اے ګله! چې ستا ښکلي د خندا نه سترګې لاړې
نو خود مې لرې برې د ژړا نه سترګې لاړې

نرګيه! پس له دې به يې د ستا په ستړګو ګورم
نظر مې وهٔ اشنا چې لاړ، زمانه سترګې لاړې
هم دا دې بدرنګه شوه مهٔ ګوره پار له راهزنانو
اے ګله! د دوستو وړاندې مې له تا نه سترګې لاړې
ما وې چې کهٔ ورګورې نو اوس بيا مخ پټوې
نو کوزې مې ګريوان ته له حيا نه سترګې لاړې
بلبل ته په کاتهٔ شوا وپه نهونو زلزلې وې
محفل ته چې ته راغلې د هرچا نه سترګې لاړې
لېز راشه شمع رويه! لږې وګوره چې څهٔ شوم
د ستا په تماشا کښې مې له ځانه سترګې لاړې

نو څهٔ شو کهٔ مړې د خاطر سترګې په تا نهٔ شوې
چې د بېرې داسې وړېې له دنيا نه سترګې لاړې

پښتو، قند، مردان

(غزل نمبر) جولائي، اګست ۱۹۸۹ع

کهٔ دې دا زلفې پهٔ لاس راغلې اشنا بيا به څهٔ کړې
کهٔ نهٔ عادت له دې بلا سره شم بيا به څهٔ کړې

در ته ګتے نهٔ شم حيران يم د اشنا سيګاره
تا مې چې داسې پهٔ اشنا وکړل پهٔ ما به څهٔ کړې

څو به بښېږې او دا دتنه تل تهٔ ماته کړې
چې يې پېرزو نهٔ وی دعا هغه اشنا به څهٔ کړې

چې څهٔ يې وکړل هغه يې تړل وکړل پهٔ تا خاطره
دا به چې تاله پهٔ لاس راشي پهٔ اشنا به څهٔ کړې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

پرېږه خوشحالي بنه نۀ ده بيا رانه مه پرېږي
کله کله غم راکوه تل چې مې يـار دې پېـرېږي

زۀ دې يم لږ که پېښېږدے نۀ شې رانه شمې
خدا ېږو د دنيا نه پۀ تيارو کښې بنه بنکارېږي

ماته د اشنا د وعدې مرېږ ځاې اشنا دے
اے وږ يه نظره تۀ پۀ هيڅ هم نۀ مړېږي

ستا به د خاطر نه وي پۀ زړۀ کښې څۀ تېرېږي
دومره بې پروا يې چې پۀ مخ کښې مې تېرېږي

○

لـه [illegible]



○

لکه مجنون غوندې ګرځم پۀ بيابان دربسې
وايم پۀ خلۀ ليلیٰ ليلیٰ شېرې ګرېوان دربسې

نۀ شوم خبر نۀ د وصال لۀ خوشحالۍ نه چرې
لکه وحشي ګرمه غمونو د هجران دربسې

نۀ دې اشنا يم نۀ چې بيا راته آشنا ووائې
پروا مې نشته دے پۀ تا نۀ ګرم خفګان دربسې

چې تۀ بيا نۀ وائې پۀ ما چې تۀ شېدا نۀ يې تۀ
کۀ د کمرو مې ګذار نۀ ګړو خپل ځان دربسې

پۀ حال خبر شه چې نن دې را نۀ شې خواله زما
چېرې پۀ لاس ګرځي خاطره رقيبان دربسې

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

راشه اے ماهِ تابان په توره شپه کښې
یم تر زلفو پریشان په توره شپه کښې

لا تکړه بې پروا یم ستا په عشق کښې
لکه بحر یم روان په توره شپه کښې

په خندا مې ستا قسم وی شمع بوبه
څو به کړمه دا ګریان په توره شپه کښې

زه خاطر د ستا د زلفو نه ډار نه کړم
مالیدلی دی ماران په توره شپه کښې

○



چې د سترګو دی ښکار زړونه زما سترګې
چې یې نه شی کړے پوښتنې زما سترګې

زړه کچکول کړمه د اوښکو په زنځیر کښې
چې درکوم شی نمڅنې زما سترګې

مرګ ژوندون دے لږ راګوره د زړه سره
در نه غواړی جوړه بخښنې زما سترګې

د هرچا دې دیدنونه مبارک شی
ویښې ستا د پیرزوینې زما سترګې

په ژړا باندې خو نه شی چې زړه ژاړ مړ
وکړې ستا د در لسنې زما سترګې

ستا د سترګو کړی خاطر چې نه درکوی
هسې نه چې دی پارنې زما سترګې

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

خوږ د هرې يوې کوڅې شوې زما سترګې
چې د ستا سترګو ته غلې شوې زما سترګې

ستا منزل ته به د زړهٔ په سترګو رسم
په تلو تلو کښې مرحلې شوې زما سترګې
څهٔ زوخونه پرې د ګرمو اوښکو اوړي
په ژړا د غم پخې شوې زما سترګې
چې سبا به کا يې ستا په در کښې نيسم
خوږ د هرې يوې ناې شوې زما سترګې
بيا مې هغه خپلې سترګې خپلې نهٔ کړې
چې لهٔ ځانه نه په دې شوې زما سترګې
اوس په دم کښې د يار زر ځل ديدن غواړي
د اول نه پېرې ښې شوې زما سترګې

نهٔ خاطر به په ترخو زړهٔ اوس عادت کړم
چې په تا باندې خوږې شوې زما سترګې

---

میاشتنۍ غنچه، ستمبر ۱۹۶۰ع

د ستا چې نهٔ وينم دا تورې سترګې
پهٔ کار مې نهٔ دى دا پورې سترګې

نهٔ به يې د بل سترګو ته پورته نهٔ کړم
د ستا پهٔ پل مې دى نسکورې سترګې

ساقي د ستا پيمانه څهٔ کومه
چې واشنا مې دى مېخورې سترګې

خاطره ژاړه لهٔ هجرانه سره
پهٔ تصور کښې خړې کړې سترګې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څه د شپې ستړګې يې په تا باندې خوږې شولې
چاته پوره نه شوې چې د ستا په لور کږې شولې

ګرېوه دا ګرېوان يې چې وحشت څنګه تار تار کړلو
نه شلېږي د ستا د زلفو څنګه حلقې شولې

ما خو پېژندلې چې د ستا خُله ډېره آسانه ده
ګرانه شوله ځکه دومره خُلې چې راپسې شولې

اوس هم ستا د مينې افسانه زما په شونډو ده
ځوړې افسانې مې په نړۍ ګوټې کښې وروستې شولې

ستړګې د خاطر کۀ ستا په ستړګو تېر وتلې دی
ګورمه دا بدې کۀ زما په حقله ښې شولې

تا به کتو غل چېرته خاطره د ورک شوي زړه
نۀ ګورې چې تا ته د اشنا ستړګې بس غلې شولې



چې اشارې کړې ايسارېږم ولې
چې پښېمان يې تيارېږم ولې

په يو ساعت کښې يې بيا بيا ژړوې
چې اوس ژړېږم قرارېږم ولې

دريغه چې مې سر دې د ستم نه وېنۀ
چې نۀ مې سرکېږم ازارېږم ولې

نور به دې څۀ وکړې بانۀ په خاطر
ټول دې پرهر کړمه وېرېږم ولې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اوښکې نهٔ کمېږي خو را ماتې شوې
تا چې خندا وکړه نو رازیاتې شوې

څوځلې د اوښکو سره درغلم
دا څنګه جرګې او ننواتې شوې

څو به ګورې ستا سترګې نماسترګې
لږې دې وې خبرې دے هو چې زیاتې شوې دي

تا چې د خاطر سره څهٔ کړې دي
خبرې دے اشنا دا چې درته پاتې شوې



تهٔ به په زړهٔ کښې ماله څهٔ راکوې
کهٔ راکوې ماله به زړهٔ راکوې

منع به نهٔ شم ستا لهٔ دره څنې
پهٔ دې دې نهٔ یم که څهٔ نهٔ راکوې
څهٔ لوی اختر دې د ځوانۍ تېر کړلو
تهٔ به لا سونه ماته ښهٔ راکوې
داسې چل وکړه چې تېر ورودېږم
سبا به ښکلیه یو لمبه راکړه
دا خوشحالي به ماته څوک راکوي
چې تړول غمونه راله تهٔ راکوې
چې پرونند او ګوره دې کړم نو ماله به شوم
اوس خو به هر څهٔ پهٔ کاله راکوې

ضد لهٔ خاطره سره مهٔ کوه تهٔ
کهٔ یو اواز راله پهٔ خُلهٔ راکوې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

تهٔ ما ستا بلې یو پهٔ سله نهٔ یې
دا تهٔ زما پهٔ وینا شله نهٔ یې

کهٔ څوک خپل ځان درته نږدې کا
خپله کوې تهٔ د چا خپله نهٔ یې

دا تهٔ خو چرته یې چې نهٔ یې نهٔ یې
هر وخت زما سره تهٔ شله نهٔ یې

خاطر به هم پهٔ تا اعتبار کوی لا
تهٔ خو هم هغه یې څهٔ بله نهٔ یې

○

○

هر څوک چې د زړهٔ قرارولو له راځي
پرهیزم ولې نه چې قتلولو له راځي

بلبل کړې د ګل وصف کهٔ بهار وي کهٔ خزان
بورا تهٔ خو یې بس یو ښکلولو له راځي

غمونه د اشنا زهٔ اوس پهٔ هیڅ نهٔ هیروم
اے غمه د دنیا کهٔ هیرولو له راځي

ارمانه د اشنا شه د اشنا سره میشته
چې زړهٔ ته د خاطر ازارولو له راځي

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



# سندرې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



○

داسې راته ګورې لکه ته چې راته ګورې
ننغ مې لهٔ زړهٔ کې وُفٔ کاږهٔ چې راته ګورې

کله چې د زلفو ورېځ لرې کړې لهٔ مخه
شي دې پلوشې ښکلي بانړهٔ چې راته ګورې

هغه وخت لږ وېره وي که ته چې مخ راځنې پټ کړې
داسې معلومیږي لکه بیهٔ چې راته ګورې

تهٔ زما د زړهٔ نه د خپل حُسن تپوس وکړه
زهٔ به درته ووایمه څهٔ چې راته ګورې

نن خو مې خاطر وکړه چې مهٔ راته راګوره
زهٔ درته کتے نهٔ شمه تهٔ چې راته ګورې

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اوس را نه هیڅ نهٔ شی خطا ده
لهٔ مرغهٔ مرغهٔ وو تمه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

نهٔ در نه غلګه هېرېدمه    خپلو وګدونه وشرمېږه
تا چې خندل نهٔ زېږېدمه    لهٔ هغو شپونه وشرمېږه
هېره زما تا ته دنیا ده
شام و سحر دې یادومه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

غرېږهٔ غر نهٔ وتې صفه    چې وی ځوندی لفربه راشي
درته پهٔ زړهٔ کښې به یې ساته    پرېږده چې موږ بنهٔ پهٔ جفا شي
زما پهٔ ستړګو کښې حیا ده
نهٔ یې پهٔ ځهٔ درواړومه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه



تل به پهٔ مرچا داسې کېږی    پهٔ داسې خلقو چې اعتبار کا
لهٔ خپله ځانه چې خبرېږی نه    لهٔ ګرنګو به یې ګذار کا
د ښکلو مینه بې وفا ده
نهٔ به یې ځهٔ درته ستایمه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

خاطر خرمهٔ وے د رګلی    اوس یې ژوندون اختیار دے
هغه چې تا درته خندلی    نن یې د لوربې خندا تور دے
زما د زړهٔ خوښه ژړا ده
ځکه یې نهٔ قراروم
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې مې سترګې دیدن د اشنا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا

زهٔ به څهٔ کړم ګریبان چې یار راکړي ګل
پهٔ زخمونو ملهم به کېږدي د ګوګل
هسې هسې مې یار خندا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دنیا نهٔ کا

ایله زُلفې یې اوس غُنچې ته جوړې شوې
دواړه شونډې یې خند بدو ته جوړې شوې
مل به څنګه زما سودا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دنیا نهٔ کا

د ستا مخ ته زما نظر ورسېدو
هغه اوده مې سم تل تر څنګې ورسېدهٔ
بې له سوزه خو هیڅوک ژړا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا

اے خاطره ګیلې د خپل یاره مهٔ کړه
ته طمع د دل آزاره مهٔ کړه
اے شباب خاطر دهیچا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا



شوې د زړهٔ سترګې سپینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

لبا نو ستا نهٔ د بنا مار پهٔ شان خوړلے یمه
زهٔ دې د سترګو پهٔ بڼو باندې ویشتلے یمه
څې مې لهٔ خُلې نه تورې وینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

پهٔ دې هجران کښې به تر څو پورې ګرېږمه زهٔ
شام او سحر لکه ماشوم غونډې ژړېږمه زهٔ
او ښکې مې څې پهٔ مخ رنګینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

چې ته ګورې پهٔ ما ظلمونه راته پېغور دے صنمه
خاطر کوي در ته سوالونه پهٔ زړهٔ یې زور دے صنمه
وهم رباب څکه د مینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې آشنا تا پسې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نهٔ ومه خبره زهٔ، تا چې زړهٔ با بُللے دے
تا ووې ربار ته پس لهٔ دې به څو راځې
خبر دے کهٔ تش تورې دې پرون زړگے شړلے دے
خیال ې وهٔ سنگار ته پس لهٔ دې به څو راځې
وښایه څیگر راته    اوس د زړگی سر راته
وایه د بڼو غشو پهٔ کوم کوم ځاې ویشتلے دے
لاس کښې آئینه ې وه    کړې چې کینه ې وه
ماکتل رخسار ته پس لهٔ دې به څو راځې
شنکه مرې در شمه    پهٔ حال دې چې خبر شمه
لاس کښې دې رقیب راته ډک تور پک نیولے دے
یو ځلې در غلے وم    بېر دې زغلولے وم
غلے وم دیدار ته پس لهٔ دې به څو راځم
ما چې کوم ستم کړے    اوس ې پهٔ تاکم کړے
دا د ځوانۍ ولړ پهٔ ما نن سبا راغلے دے
شو خاطر غلام دستا    کړې به تل سلام دستا
پرې ې بنده دربار ته پس لهٔ دې به څو راځم

نن خو راته مهٔ وایه چې نا    تر سبا
سو دې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا    تر سبا
ووایه اشنا راته، تهٔ زما تعبیر نهٔ یې
وی چې تل پهٔ خیال کښې ې تهٔ صفه تصویر نهٔ یې
بله راته ښکاری دا دُنیا    تر سبا
سو دې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا    تر سبا
راکړه ساقی داسې مئ چې شی زما او ستا نشه
هم پرې د چوپتیا نشه هم پرې د دنیا نشه
جام د لبو راکړه پهٔ بیا بیا    تر سبا
سو دې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا    تر سبا
نن خو دې را جمع شهٔ پهٔ مُشو کښې کیفونه دک
سترگو پیمانو کښې دې رنگ پهٔ رنگ ستونه دی
گُلې د خاطر شه پهٔ رښتیا    تر سبا
سو دې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا    تر سبا

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



طلب کړم صنم چم په چم
لوند مې کړېوان دے ځاځي مې نم

مينه وفا دې نشته
په چا پرواه دې نشته
وېره له چا دې نشته

کوه ستم طلب کړم صنم
رنګ مې تک تور صنمه
سوے په اور صنمه
کومه شور صنمه

وکړه کرم طلب کړم صنم
مينه بهار دے دستا
چمن ګلزار دے دستا
خاطر ماليار دے دستا

ډګل په چم طلب کړم صنم

ے متن لرښندار ديوان کښې مصرع داسې ده ـ چم په چم طلب کړم صنم



چې ستړګې نه وباسې، زما او ستا نه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنيا نه

زما او ستا دلته څه دی، خويږه مينه
راځو هر چرته کېږي، چې داسې وينه
ځان له به جوړ کړو بوستان، په بيابانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنيا نه

څو به په وېره سره، ديدن په غلا کړو
په انتظار کښې سره، بېګا سبا کړو
نه شه له زلفو تېره، نه له کړېوانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنيا نه

دا ړک د مينې زړونه، به دواړه يوسو
ځه چې ځنګل ته لاړ شو، هلته به اوسو
يو دې چار ګل په ږونه بل دې پېزوانه
راځه چې درومو دواړه له دې دنيا نه

دا مې په خوا خاطر کښې، نه وو صنمه
چې زه خاطر به شمه، په خاطر جمعه
ځکه چې ستا له غمه، ږې يم پرېشانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنيا نه

ے متن [illegible]

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

د سپي نه کال ته د پېر غمونه
له داسې ژوندانه مرګ به ښه دے راتې شینه
الله دې خیر کړي
ستا د ماښو فریادونه
هېر به مې نه شي
لکه د زاڼو قطارونه
هېر به مې نه شي
پاس په اسمان کښې جهازونو سره ځینه
الله دې خیر کړي
د پښتنو فقیره ژونده
خنګه به تېر شې
تېر خو به شې په لوږه تنده
خنګه به تېر شې
په مصیبت به دې څوک سر ته رسوینه
الله دې خیر کړي

نوم د پښتو راځي هېر شي
څوک مې یادېږي
غم د حقوقو را سره پېر شي
څوک مې یادېږي
څوک چې د قام او د اولس خدمت کوینه
الله دې خیر کړي
خاطره صفحه خلق ستا به
په خپل کتاب کښې
تل په بار بار دغسې وایه
په خپل کتاب کښې
چا چې سر ورته په وطن ورکړې دینه
الله دې خیر کړي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شوګیرې توتي په سبا سبا کښې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
ستا د ښایسته سترګو د یاره ګټوره مانه ښکلیه یاره
ځمره لېمې مې په زېړګوتي باندې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
د خدای د پاره بس ګړاشه که مرور یې راځه لاشه
ستا د راتلو په انتظار مې سترګې سترې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
دا ته چې لاړې د بل چاشوې زما د زړه ځني جدا شوې
زما د استړې شوګیرې دې توتي هېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
خاطره زه ځان ته حیرانه یمه که لېونۍ ګرځم بس روانه یمه
د بېغلتوب ملګرې توتي دا نه ګېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو

د قافیه درسته نه ده

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



واوره صنم زړه مې نه شي له تا نه
ویلې نه شم زه ځنې له حیا نه

دغه ستا د مینې درد و نه ښه دی په ما
زړه مې د ستا د پاره ولې چې وی دي په ما
واوره صنم

په کومه لاره ښکلیه چې قدمونه کېږدي
د زړه د مېنو په زړه باندې داغونه کېږدي
واوره صنم

زړه مې له خپله کوره تښتي چې راشې صنم
خاطر د هر ګران دے پوهه ما چې په خندا شي صنم
واوره صنم

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



په تش دیدن باندې ئې نه نه مشغولیږه
ځم مه خفه کیږه بله ورځ به راشم

له هر چا پټه پټه ستا یارانه به کړمه
تا له چې درشمه نه د رڅه بهانه به کړمه
په انتظار کښې ئې له ځانه سره ژړیږه
ځم مه خفه کیږه بله ورځ به راشم

کړم دا وعده درسره چې تا به هېر نه کړمه
یو ساعت ئې له تا به په نوره ځه تېر نه کړمه
په دې سودا ئې ویده کیږه راویښیږه
ځم مه خفه کیږه بله ورځ به راشم

نښه د ستا او زما ، ماهِ تابان شو سره
بل ئې کاروان د ستورو په کهکشان شو سره
د سبائې د خیال خوبونو کښې ژنګیږه
ځم مه خفه کیږه بله ورځ به راشم

ځان ته دا ټوله دُنیا خاطره ما وکړنه
په کښې ئې مخ او زُلفې بیګا سبا وګڼه
د نړه په مینه ئې په سترګو کښې اوسیږه
ځم مه خفه کیږه بله ورځ به راشم

له که په دیوان او مثنوي ننه کښې (د) دے



ته چې په مرګ زما رضا یې
ما ته قبوله دلربا یې

ستا رضا ده چې داسې ژړیږم
په عالم کښې داسې ګرځیږم
په محبت ئې نا رضا یې
ما ته قبوله دلربا یې

عاشقي وه پیدا له اوره
لږ زما سوی زړه ته وګوره
جوړ په معنیٰ قیمت بها یې
ما ته قبوله دلربا یې

خاطر ته ګوره داسې حیران دے
په محبت کښې ستا بندیوان دے
بې کبرجنه بې ریا یې
ما ته قبوله دلربا یې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوبنه دې شوه وله زما د اشنا مينه
اے زړه غمګينه

اے زړهٔ ذرې شه
خاورې ايرې شه
ځي د سترګو د زړګي وينه
اے زړهٔ غمګينه

راشه کهٔ وينې
د زړګي وينې
د يار پهٔ غم کښې چې دوی راځينه
اے زړهٔ غمګينه

خاطره دا شپې
تا نه جدا شپې
چرته د وصال شپې د يارکه دينه
اے زړهٔ غمګينه



اوس به وطن د سرو ګلونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
څهٔ به د ښکلو نګهتونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

بلبله ستا د تماشو ورځې دي
راشه هم دا دې د نغمو ورځې دي
نه چې لا هغه د اژغو ورځې دي
ځان کړه پهٔ خبر اوس د ګلو ورځې دي
راشه چې ژوند دې د کېفونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

اوس به تل بوټي سره ځان وښائي
څوک به کلي څوک به ګلان وښائي
لاله به هم خپل ګرېوان وښائي
هم به بلبل شور و فغان وښائي
اوس به ښاخونه د رنګونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


جونه به ولونه د وربل جوړوي
په کښې ځايونه به د ګل جوړوي
سرو سرو غنچو نه به منګل جوړوي
په آئينو کښې به کاګل جوړوي

دغه جهان به لۀ نازونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

ښکلي ځلي به په شملو کښې بندي ګل
او رس څو به جونه په ګمڅو کښې بندي ګل
ډېر ارمانونه به په زړو کښې بندي ګل
څوک به د زړۀ په پرهرو کښې بندي ګل

داسې به زړونه په داغونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

زۀ کوم ثنا د چا خندا نۀ وينم
چې مې ليده هغه رڼا نۀ وينم
ګل د رخسار چې د اشنا نۀ وينم
زۀ نور ګلونه د دُنيا نۀ وينم

څوک لۀ جهان لۀ ديدنونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

د ارمانونو لوے جهان رنړوي
زړۀ په ګوګل کښې مې جانان رنړوي
د مينې ګل را نه هجران رنړوي
نۀ کړې خاطر دغه بوستان رنړوي

د مغ کتاب دې د رانونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

څۀ به د ښکلو نګهتونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړګي مې غواړي شمع رڼه سوزېدل
راشه يو ځل
ارمان مې دا دے کۀ پوره شي
د رنځ دارو مې د اشنا سره لېدل
راشه يو ځل
څو به شوګير کړم راته وايه
واړه خوبونه راځنې وتښتېدل
راشه يو ځل
کۀ ديدن کړې تلوار راوکړه
همزولې راغلې خوروى مې تور وبل
راشه يو ځل
عاشقان ګوره حال يې څۀ شو
لکه پتنګ چې پۀ لمبو وسوزېدل
راشه يو ځل
سوال د خاطر منظور کړه ياره
جفا دې پرېږده د وفا وکړه کتل
راشه يو ځل



ښ دې وربل پۀ کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه نۀ اور راته بل دے
د ګوند کاروان مې دے د غم خبر وګرد وزړکې
واورده فرياد مې د جرس پۀ اوازونو کښې
تلے دې پل پۀ کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه نۀ اور راته بل دے
ترڅو د هجر دا اوږدې شپې او تيارې به وينم
سبا د وصل به وى لرې کۀ نزدې به وينم
د ستا منزل پۀ کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه نه اور راته بل دے
خاطره ښ دې کۀ لږ سم راته کتلى وے
واړه بناپسته به دې لۀ نږۀ ځنې وتلى وے
دکتو چل پۀ کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه نۀ اور راته بل دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستړې نیولي دي ما ستا په رخسار کښې
او به او به شول توری ځي په خُمبار کښې

ما چې لیدلے، ستا پښو کښې پل دے
غم د وحشت، وحشت دا سره مل دے
اوس مشغولا کړم په دغه لار کښې
او به او به شول توری ځي په خُمبار کښې

نه د ر ر سیږي نه د ر ته غږ شي
نه را نه خُمب شي نه را نه ښ شي
دا څه ژوندون دے په انتظار کښې
او به او به شول توری، ځي په خُمبار کښې

یار یې له ښکلو سره روان دے
دې تماشې ته خاطر حیران دے
تکه سپوږمۍ دی، ستورو قطار کښې
او به او به شول توری ځي په خُمبار کښې



زما په طمع به کړې تېر هسې وختونه
زه دې یاره نه یم دومره وزګاره نه یم
چې در ته ګورم

ماته را یاد نه دي څوک زه په ځوانه کښې یمه
په زړګي غم نه لرم په خوشحالۍ کښې یمه
زه لېونے یم چې کوم دومره فکرونه
زه دې یاره نه یم دومره وزګاره نه یم
چې در ته ګورم

لېونۍ نه یمه چې، د غم سودا کومه
په تا دې او د بلېږي زړه څه پروا کومه ے
چې بیا مې زړو چې را ته نه کا پېغورونه
زه دې یاره نه یم دومره وزګاره نه یم
چې در ته ګورم

---

ے متن لرنه او دېرلا کښې د دا بل مصرع چې داسې ده :
لېونۍ نه یم چې دا سودا کړم — په تا دې او د بلېږي زړه څه پروا کړم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

دومره وزګاره نهٔ یم چې خپل ځان وه وینم
چې پهٔ ائین کښې ګورم آئین پرېشان وه وینم
جانانه ډېر درپسې ګرځم ارمانونه
زهٔ دې یاره نهٔ یم دومره وزګاره نهٔ یم
چې درته ګورم

زهٔ چې ګورم له څمه مئین سوزېږي په ما
لکه د اور پهٔ شان سېځکار څلېږي زما
خاطره مهٔ راځه بلېږي سرهٔ اورونه
زهٔ دې یاره نهٔ یم دومره وزګاره نهٔ یم
چې درته ګورم

تورې ستړګې دې اشارې کا — سرې شونډې لمبې کا
زړه کیه راته وایه — چې زهٔ کوم طرف ته لاړ شم

کله بانړهٔ راته انغی کا — پېښې دګلو اننګي کا
چې مسکۍ شې بیا ستړګې مرې کا — سرې شونډې لمبې کا
زړه کیه راته وایه — چې زهٔ کوم طرف ته لاړ شم

بیا چې ارمان دِ سرهٔ وی — کړې چې څهٔ دې نن پهٔ زړهٔ وی
چې مې خلق ټول تماشې کا — سرې شونډې لمبې کا
زړه کیه راته وایه — چې زهٔ کوم طرف ته لاړ شم

د انتظار پهٔ توره شپه کښې — دا دې خاطره پهٔ تیاره کښې[2]
خپلې او بنکې دې ځان ته ډېرې کا — سرې شونډې لمبې کا
زړه کیه راته وایه — چې زهٔ کوم طرف ته لاړ شم

[1] له منزل‌ته او دیوان کښې (نن) نشته
[2] له منزل‌ته کښې دا بند نشته

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې تر سبا به ږې ژړا په تا پسې کړه
را یاد دې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

دلبره ښه را ته معلوم یې
مسې خوره چې ته ماشوم یې
کله زهیر په ما مظلوم یې
چې نه پوهیږې له هغو سره وعدې کړه
را یاد دې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې ستا د مخ په تماشا وم
دغه وصال وه که جدا وم
نه یم خبر په څه سودا وم
چې تماشا مې ستا د مخ د تماشې کړه
را یاد دې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې په غمونو کښې دې ګېر کړم
اوس دې دلبره ځله هېر کړم
که دې یې ګل په دیدن سېر کړم



کنې له غمه به دې سر شم بیا مړې کړه
را یاد دې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې د اغیارو زما یار شې
بس اوس مې قتل ته تیار شوې
اشنا زما څنې وېزار شوې
پرهار مې نشته خو په خپله مې ذبې کړه
را یا دې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

څکه قبول دغه بېلتون کړم
څه بې له تا په دې ژوندون کړم
دلبره مینې دې مجنون کړم
جانانه اوس را پورې تورې مسخرې کړه
را یاد دې دغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

دستا چې نه یمه دچا یم
راغلې دایم په خندا یم
مرور نه یمه پخلا یم
خاطره بیا که مرور شوم نو کیلې کړه
را یاد دې هغه شپې کړه زما نا ترسه یاره

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

تېر به د ستا د حسن وار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

چې نهٔ را درومې اشنا نو وعدې څله کوې
هغه پرون دې څهٔ وې ن چې بیا بیا له کوې
زما یقین ستا په اقرار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

سترګې مې بې لهٔ تا نه د چا په لور نهٔ ګوري
د ستا لهٔ مخه څخې مخ ونه نور نهٔ ګوري
مړې به کله په دیدار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

نهٔ د بل چا د مینې اشنا څهٔ طمعه نهٔ کړم
نهٔ به لهٔ نوره سره ستا مینه سمه نهٔ کړم
په ما خاطر دې که اعتبار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

له منزلونه او ډېران کېږي (چې) دے

چې نهٔ را درومې یاره ته، منع دې کړه یاد زما
نهٔ شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

ان د یو ساعت مهمان د لې
واوره زما یو خو ګیلې
تېر به شي ستا شباب، سر دې نهٔ کړو مراد زما
نهٔ شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

چا ته بنکاره کړم خپل څېګر
نهٔ کړې پروا مې پرې دلبر
نورې دې خوک چې پې واورې دغه فریاد زما
نهٔ شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

کهٔ بنهٔ دې شي په سر زما
وي دې پیشکش دلبر زما
وائي خاطر شه نار لهٔ تا، نشته باقي جانپداد زما
نهٔ شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

زهٔ جهان څهٔ کړم چې نن مخیه یاره تا ووینم
ښکله دنیا ووینم    ښکله دنیا ووینم
ستا د کاکل په تورو شپو پورې لاشپې څهٔ دی
ستا د سرو شونډو انګو پورې غنچې څهٔ دی
دی تماشه مې د ژړا چې د دې خندا ووینم
ښکله دنیا ووینم    ښکله دنیا ووینم
د ستا په مینه کښې د خلقو خندنے خوښ یم
خود خپل عقل ته وړ کار شم لیونے خوښ یم
راسره غم د لیونو شی چې صحرا ووینم
ښکله دنیا ووینم    ښکله دنیا ووینم
ګله چې ما خاطر ته یاد شې ټول جهان ګل شی
لهٔ ډېره هجره ضریو ګلې د چشمان ګل شی
خدای خبر بیا چې زهٔ به ستورے د سبا ووینم
ښکله دنیا ووینم    ښکله دنیا ووینم



د قام ځلمو ستړې مو پوره ته کړې خپل ځان وګوره
چرته کښې ور سېده، وګوره جهان وګوره

د قام ځلمو زموږ همدغه د ختو ورځې دی
دا مو د ژوند د بنه کېدو د خوشحالو ورځې دی

د نن په څېرې خپل طاقت په ټول جهان خور کړې
په خپل همت هر چرته نوم د پاکستان خور کړې

شا ته نور مه ګوره په وړاندې خپل قدم کېږده
په ورانو لارو باندې مه ځې قدم سم کېږده

له مخې لرې کړه ازغي ځان ته ګلونه کېږده
شی چې اغیار در ته حیران هلته کښې پلونه کېږده

موږ له چې مخې له راغلی وار خطا تللی دی
ځلمو زموږ ځنې ډېر ځلې په شا تللی دی

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تاسو هم واورئ چې پېغور ته نظر تېر نهٔ شي
د پاکستان خلقو مېدان کښې مو سر تېر نهٔ شي

د مشرانو تل خلقو نصيحتونه نهٔ وي
دا مو دے وخت د ترقۍ تل دا وختونه نهٔ وي

ملا مو د قام خدمت ته وتړئ چې سيال شئ پکښې
دا تنګي لنډې کړئ او ارې چې خوشحال شئ پکښې

چې ننۍ ورنهٔ کړئ خلقو بيا به يې کله وکړئ
د خپل وطن خدمت ته پورته شئ په خپله يې وکړئ

يو بل ته مهٔ ګورئ الهٔ ځان هر يو ماليار جوړ کړئ
د پاکستان د هر يو ګوټ څنې ګلزار جوړ کړئ



د دښمن په خونه تندر د اسمان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
شان و شوکت دے زموږ
جاه و حشمت دے زموږ
د قربانۍ په ډېرو وينو د امکان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
دا دهکې مهٔ کوه
هسې دپکې مهٔ کوه
زړهٔ د فولادو نه د هر يو مسلمان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
غم د بلا نهٔ کوو
د چا پروا نهٔ کوو
مقابلې ته د دښمن زموږ يو ځان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
موږ د خپل کور کړو فکر
هم د خپل ورور کړو فکر
فکر مو دا دے چې کشمير کښې هندوستان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

خاخکي پهٔ شان وو اول
حیران پرېشان وو اول
اول وو خاخکے اوس دریاب ترې بې پایان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
هر امتحان ته ولاړ !
دغر پهٔ شانته ولاړ
وائي خاطر چې کلک پهٔ شانې د سټدان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

*

ستا د هلال ستوري مدام اختر دے زمونږ
د ستا مثال ستوري بنګاري نظر دے زمونږ
د ستا د اقبال ستوري سر او بصر دے زمونږ

تل ځلېږي پهٔ تا چې یې روښان وطنه
د پاکستان وطنه

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**